www.sikaraam.com

# لس مرکې

خپروونکی: سیکارام خپرندویه ټولنه

**مرکه کوونکی: طارق وزیر**

# لړلیک


۱ :شعر او فلسفه.............................................................پروفېسر ډاکټر حنیف خلیل

۲ :ناول..............................................................................ډاکټر محب زغم

۳ :شپږم حس.....................................................................عمران آنګېز

۴ :هندي سبک ......................................................پروفیسور ډاکټر حنیف خلیل

۵ :دژاوو ..............................................................ډاکټر شرف الدین عظیمي

۶ :ګازلایټېنګ .......................................................ډاکټر شرف الدین عظیمي

۷ :په کیسه کې خیال او واقعیت..................................................ایمل پسرلی

۸ :ټپیزه.........................................................................ډاکټر حنیف حیران

۹ :سمبول.................................................................................اجمل پسرلی

۱۰ :خوب...............................................................................عمران آنګېز

# شعر او فلسفه

په دې مرکه کې مې د شعر اړوند ځينو مهمو مسايلو په اړه پروفېسر ډاکټر حنيف خليل صيب پوښتلی، خليل صيب په ادبياتو کې phd لري او فی الحال د اسلام اباد قائداعظم پوهنتون ډايرېکټر دی .

طارق وزير :ځينې شاعران په دې نظر دي چې د شعر لپاره مطالعه اړينه نۀ ده،ځکه داسې ښۀ شاعران هم لرو چې حتی ليک او لوست يې هم زده نۀ دی؛ څۀ فکر کوئ چې د اوسني دور د غوښتنو مطابق شاعر بايد علمي او فلسفي پوهه ولري او که خپلې تجربې يې کافي دي؟

حنيف خليل :دا پوښتنه بايد په دوو برخو ووېشل شي، يوه دا چې شاعران بايد مطالعه ولري او کنه؟ يعنې مطالعه ضرور ده که له مطالعې بغير هم شاعري کيدلی شي؟ ځکه ځينې شاعران لرو چې بغير له مطالعې هم ښه شاعري کوي.

ددې برخې په جواب کې به دومره ووايم چې د شاعرۍ هم دوه برخې دي؛ يوه برخه يې د خيال،فکر، مضمون او محتوا برخه ده، چې هغه د مطالعې سره زياته اړه نۀ لري، خو مطالعه پکې وسعت او پراختيا راوستی شي.

دوهمه برخه يې بيخي مطالعې ته محتاجه ده،دوهمه برخه يې د جوړښت او د شاعرۍ د هنر ده، نو کوم شاعر چې د شعر د تکنيک مطالعه نۀ لري، نو هغه يوازې په خپل خيال او فکر شاعري نۀ شي کولی، بايد دا ولري.

مطلب دادی چې د شاعرۍ په دواړو برخو کې د مطالعې ضرورت دی.

دغه ځيني شاعران چې له مطالعې بغير ښه شاعري کوي، نو که غور وکړئ د هغوی شاعري به د فن، هنر او تکنيک له مخې ښه شاعري نۀ وي، په هغې کې به فني خامۍ او کمزورۍ وي؛ ځکه دی به د شعر په تکنيک نۀ پوهيږي چې په يو شعر کې صنعت څنگه راځي،تلازمه څنگه راځي،نوي تشبيه،استعاره او علامت څنگه پيدا کيدلی شي، نو ددې نه به بې تعليمه شاعر عاري وي ځکه زۀ فکر کوم چې د شعر دپاره په دواړو برخو کې مطالعه پکار ده.

باید یو شاعر دا معلومات ولري چې زما نه مخکې دور کې کوم خیالونه،فکرونه او مضامین بیان شوي دي او کوم نوي دي، نو له تکرار به بچ کیږي.

د هنر په حواله بیخي ضرور ده، که موږ د غزل شاعري کوو نو د غزل په تکنیک پوهه پکار ده،که نظم لیکو،ازاد لیکو،معرا لیکو،یا بل کوم صنف لیکو چې د هغه صنف غوښتنې مو نۀ وي لوستي نو په هغه صنف کې به شاعري څنګه کوو؟

بیا خصوصاً غزل خو د ډېرو فني باریکیو غوښتنه کوي، کوم شاعران چې په نن دور کې رحمان بابا لولي، کاظم خان شیدا لولي،یا حمزه بابا لولي نو تاسې ته به اندازه وشي چې د هغوی د غزل تکینک ډېر مضبوط دی.

خو کوم شاعران چې دغه استاد شاعران نۀ لولي نو د هغه د غزل فني خواوې به کمزوري وي .

د پوښتنې دوهمه برخه داده چې شاعرانو  ته فقط خپلې تجربې کافي دي ، کنه فلسفي او علمي لوسته هم ضروري ده؟

د فلسفې لپاره د مطالعې نه زیات د مشاهدې ضرورت وي او دا یوازې د شعر لپاره اړتیا نۀ ده چې موږ ووایو چې دا د شاعر خپلې تجربې دي، نو دا فلسفي تجربې دي او باید په شعر کې راشي،  فلسفیانه سوچ له شاعرۍ بغیر هم کیدلی شي چې مشاهده ورته پکار ده.

څوک چې فلسفه مطالعه کوي هغه فلسفي نۀ جوړیږي،بلکې د علم الکلام استاد او ماهر جوړیږي.

علم الکلام دې ته وایي چې کوم خلک خپل تخلیقي غور نۀ کوي یا تخلیق نۀ شي کولی او په زړو فلسفو ځان پوهوي، نو دا فلسفي نۀ دی؛ فلسفي هغه سړی وي چې په خالي ذهن سره د خپلې مشاهدې په رڼا کې نتیجې ترلاسه کړي او بیا یې بیان کړي.

مهمه داده چې شاعر دې ټولنیزه مشاهده ولري، جامعي تجربې دې ولري،د ټولنې درد دې حس کړي، خو دغه احساس چې کله په ښۀ شعر کې وړاندې کوي نو بیا ورته د شاعري مطالعې، ضرورت دی، بیا ورته د شاعري چوکاټونو او نزاکتونو باندې د پوهې اړتیا ده.

خلاصه دا چې بغير د مطالعې نه،د شعري تکنيک د پوهې نه، د شعر د ژانرونو،صنفونو او د شاعرۍ د فني نزاکتونو نه د لوړ معيار شاعري نۀ شي کيدلی؛ وجه داده چې د شعر په پوره ارتقايي سفر يو نظر پکار دی، هله به شعر په دواړو حوالو مضبوط وي، هم به فکر و خيال نوی او نادر وي او هم به د بيان انداز هنري او تکنيکي وي .

طارق وزير :موږ ځينو شعرونو ته فلسفي وايو، تصوفي وايو؛ غني خان ته فلسفي شاعر وايو يا استاد غضنفر دغه اصطلاح د اشرف مفتون لپاره مناسبه بللي؛ نو د هغه شاعرانو شعرونه چې سياسي اړخ لري ولې يې سياسي شاعر نۀ بولو او که د فلسفي او صوفي شاعرانو اصطلاحاوې غلطې دي، خو که وکارول شي کومې ستونزې پېښوي؟

حنيف خليل :ستاسې دويمه پوښتنه ډېره زياته ښکلي او اهمه ده، چې موږ د شاعرانو لپاره ځينې اصطلاحات راوړو لکه فلسفي شاعر او صوفي شاعر، ماته دا اصطلاحات ډېر مناسب نۀ ښکاري .لکه تاسې چې پوښتنه کې ويلي چې بيا موږ ولې سياسي شاعر، مذهبي شاعر، ساينسي شاعر او نور اصطلاحات نۀ کاروو.

دا فلسفي او صوفي شاعر هم بايد ونۀ کارول شي؛ موږه چې د شاعرۍ کوم معروف اصطلاحات لرو، هغه داسې دي چې :کلاسيکي شاعر، رومانوي شاعر،مقصدي شاعر.

که دغه شان د هرې موضوع دپاره يو اصطلاح وضع کوو، نو بيا به د محتوا، فکر وخيال په حواله په لسگونو نورو اصطلاحاتو ته اړتيا ولرو.

ډېر داسې اصطلاحات به وي چې هغه به بيا ځان ته نوم غواړي.

نو زما خيال دی چې موږ بايد همدغه مروج اصحلاحات راوخلو، چې هغه له ادبي او شعري تحريکونو سره اړه ولري؛ يعنې کلاسيک يو دور ؤ او دا يو کلاسيکي تحريک تېر شوی دی، رومانوي تحريک د ادب يوه برخه ده، مقصديت تحريک د ادب برخه ده، ترقي پسند تصور د يو فکري تحريک نوم دی؛ نو که دې سره موږ د يو شاعر پېژندگلو وکړو نو ماته زياته مناسبه ښکاري.

پاتې شوه دا چې شاعر فلسفي يا تصوفي دی، گوره دا فلسفه او تصوف يوازې د شعر دپاره نۀ دي، بغير له شاعرۍ هم کيدی شي.

که بيا کوم ليکوال نثر ليکي نو موږ به ووايو چې فلسفي يا تصوفي نثر يې ليکلی دی، خو بيا به راته لس،شل نور نومونه پکار وي، چې دا سياسي که مذهبي يا بل ډول؛ نو دا به مشکل پيدا کړي او په دغه اصلاحاتو کې دوه زيات

معروف دي، فلسفي او تصوفي شاعر؛ له دې دواړو هم باید تېر شو او د کلاسیکي شاعر، رومانوي ، مقصدي او ترقي پسند شاعر اصطلاحات ووایو نو شاید مشکل پیدا نهٔ کړي.

دا ځکه مشکل نهٔ پیدا کوي چې هغه د رجحاناتو او تحریکونو نومونه دي او یوازې په پښتو کې نه بلکې په نړۍ دغسې ده، یعنې په یونان کې خپل کلاسیک دی نو د هغوی کلاسیکي شاعران دي، په مغرب کې د انګریزۍ، فرانس،جرمن ... خپل کلاسیک دی ،هغوی هم په کلاسیک پېژندی شي، رومانوي په رومانویت پېژندی شي، ریالېسټ یعنې حقیقت نګارۍ ولا شاعران هم په ریالسټ پېژندی شي.

ستاسې پوښتنې کې دا ځواب موجود دی چې د فلسفي او تصوفي شاعر اصطلاحات ستونزې پېښوي .

طارق وزیر:ځینې شاعران فکر کوي چې که د نورو شاعري مطالعه کړو، نو تاثیر یې راباندې لوېږي او زموږ شعر د هغوی رنګ اخلي، نو ځکه یې نهٔ لولي؛ خو دلته مهمه مسئله داده چې که مطالعه یې نهٔ کړي نو زده کړه له څهٔ شي کوي او بل له دود هم قطعاً بېلیدلی نهٔ شي؛ نو داسې لاره شته چې شاعر له نورو زده کړه وکړي او هم یې شاعري د چا تر اغېزې لاندې نهٔ شي؟

حنیف خلیل :دا پوښتنه هم له ړومبو سره لږ ډېر نزدېکت لري چې ځینې شاعران داسې رایه لري، چې هغوی مطالعه دې دپاره نهٔ کوي چې د هغوی په شعر د نورو اثرات را نهٔ شي.

زما وایم چې دا درسته خبره او مناسب سوچ نهٔ دی،دا هېڅ امکان نهٔ لري چې یو شاعر دې د هیچا شاعري ونهٔ ګوري او دی دې خپله شاعري بلکل ځانګړې وکړي او بیا هم پرې د چا تاثیر نهٔ وي، په چوکاټ به هم پوره وي،په فني لوازماتو به هم پوره وي، دا ممکنه نهٔ ده.

شاعر باید مطالعه او شعري شعور ولري، شاعر باید پوهه وي چې کومې خبرې زما څخه مخکې شوي دي او ماته کومې خبرې کول پکار دي.

که یو شاعر بیخي نور شاعران نهٔ ګوري،نو له هغهٔ خو په نهٔ کتلو کې هم ډېرې خبرې تکرارېږي،هغه به د نورو د نهٔ مطالعه کولو باوجود ۵۰ فیصده داسې خبرې کوي، چې نورو شاعرانو کړي وي، نو دا خو اپوټه عمل شو.

کوم شاعر چې د ځان نه مخکې شاعران لوستي وي، هغه د تکرار نه ځان بچ کولی شي، نوي او خالصې خبرې راوړلی شي، د نوو خبرو لپاره تخیل پکار راوستلی شي، ځکه د هغهٔ په تېرو خبرو نظر دی.

که خبرې نوي نهٔ وي نو انداز نوی ورکولی شي، خو چې کوم شاعر د شعري بهیر هېڅ مطالعه نهٔ لري نو هغه به د تکرار نه څنګه ځان بچ کوي؟ ځکه دهٔ ته خو پته نهٔ شته چې دا خبره شوې ده او که نهٔ ده شوې؟

زهٔ که شعر لیکم او ما حمزه بابا نهٔ وي لوستی، نو زهٔ په خپل چورت کې روان یم او ما د پښتونوالی، رومانویت، جمال او فلسفې هغه شعرونه ولیکل، زما خیال به دا وي چې دا زما خپل سوچ دی خو که دا ۱۰۰فیصده له حمزه بابا سره یو رنګ راغلل بیا به څهٔ کوم؟ خو که ما حمزه بابا لوستی وي نو زما په ذهن کې به دا خبره پرته وي، چې دا خبره زهٔ په شعر کې ولې ځای کړم چې حمزه بابا کړې ده؛ زهٔ ولې هغه څهٔ تکرار کړم چې رحمان بابا،خوشال بابا او ځینو نورو کلاسیکو او د خپل دور شاعرانو زما نه مخکې دا خبرې کړي دي.

دا چې څوک سوچ کوي چې زهٔ مطالعه نهٔ کوم او نوي خبرې به وکړی شم، د اغېز او اثر نه به بچ شم دا غلط سوچ دی، بلکې دا ځان پخپله تکرار ته اړ کول دي.

له داسې شاعر سره شعور نهٔ وي چې کومې خبرې یې زړې او کومې نوي دي، دهٔ ته خپلې ټولې خبرې نوي ښکاري خو امکان لري چې ۸۰فیصده زړې وشي.

کوم شاعر چې د شعري بهیر ،سفر او د تاریخ مطالعه لري، هغه ځان په ډېره ساتلی شي، ځکه نوي او زړې خبرې پېژني.

بله خبره داده چې د کوم شاعر په شاعرۍ د نورو شاعرانو اثر وي هم، نو هغه به یا د خیال او یا به د جوړښت وي؛د خیال او فکر اثر بده خبره نهٔ ده، ځکه دا اثر فطري دی،یو خیال د بل نه پیدا کیږي او یو خیال د بل سره توپیر هم کوي.

خو د تکنیک، جوړښت او د پېشکش چې کوم انداز دی هغه ځانګړی پکار دی، باید نوي ترکیبونه پیدا کړو، نادرې استعارې پیدا کړو؛ اګر چې نوي استعارې او تشبیهات پیدا کول ډېر ګران کار دی خو که موږ کوم نوی کار په جوړښت کې کولی شو، هغه د ترکیبونو کارول دي، ځکه موږ سره مفردات او ټکي موجود دي خو که د هغو ټکو نه مرکب جوړوو، نو کولی شو نوی ترکیب جوړ کړو؛ دوه داسې ټکي راواخلو چې له موږ مخکې نهٔ وي شوي، نو بیا د مطالعې ضرورت دی او خپل انداز او بیان کې نویوالی هم راوستی شو.

زما مطلب دادی چې کومې خبرې شاعران کوي، هغه خبرې که ټولې شوي وي، اصل شاعري داده چې زړې خبرې په نوي انداز وکړی شي او ډېر شاعران شته چې انداز او اسلوب يې نوی دی.

د اردو د يو شاعر حواله درکومه، سيف الدين سيف د اردو شاعر دی؛ هغه يو شعر ويلی چې :

سيف انداز بيان رنگ بدل ديتا هی

ورنا دنيا مى كوى بات نهى بات نهى

مانا يې داده چې :سيف اندازِ بيان رنگ بدلوي، گني دنيا کې نوي خبره اډو شته نه .

مطلب دا شو چې خبرې خو زړې دي خو انداز نوی پکار دی او دغه خبره حمزه بابا هم يو شعر کې کړې ده، مطلب يې دادی چې خيال و فکر دې زوړ وي خو لباس دې نوی وي.

شاعري خپل انفراديت په پرزېنټېشن،جوړښت او تکنيک ترلاسه کوي.

کوم شاعران چې دا سوچ لري چې زۀ نور ځکه نۀ مطالعه کوم چې نوي خبره کول غواړم، دا غلط فهمۍ کې دي او تېروتي دي.

تاسې تجربه وکړئ چې کومو شاعرانو د نورو شاعرانو ژوره مطالعه کړې ده، نو هغه په خپل شعر کې د پېشکش او جوړښت په نوي اسلوب اختيارولو کې کمياب شوی دی.

کوم شاعران چې بې مهاره ور ګډ وي نو غلط فهمۍ کې وي او فکر کوي چې زۀ څۀ وايم دا زما دي، خو د هغۀ نه مخکې شلو کسانو دا خبره کړې وي.

نو اخري جمله داده چې که څوک د خيال او جوړښت دواړو په لحاظ نوی شعر ويل او نوی انداز غواړي، نو د زړو خبرو نه خبرتيا،د زړو تراکيبو انداز، له تشبيهاتو او نورو تکنيکي لوازماتو نه خبرتيا ورله ضروري ده، ځکه چې دې نه په ډېره وي نو نوی انداز به خپل کړي .

طارق وزير :زموږ ډېره شاعري خاصتاً د ځوانانو شاعري د موضوعاتو او د بيان د طرز له مخې تکرار ده، خو که څوک انتقاد وکړي ځينې يې ځواب دا وايي چې ژوند ټول تکرار دی او شاعري هم د ژوند له مسايلو سره تړلې ده.

ستاسې په نظر تکرار او بې نوښته شاعري شعر وژنه ده او که مشکل نۀ لري؟

حنيف خليل :دا څلورمه پوښتنه هم د ځينو اجزاوو وضاحت غواړي، يعنې چې څوک وايي چې ټول ژوند تکرار دی نو په شاعرۍ کې به هم تکرار راځي؛ دغه فکر او رسايي مناسبه نۀ ده.

که ټول ژوند تکرار دی هم، خو په دې ژوند کې تنوع څومره ده.

ژوند په ټاکلي حد کې راګېر نۀ دی، يو ماشين نۀ دی او نۀ په يو دور کې ولاړ دی؛ ژوند د اوبو تلاب نۀ دی سمندر دی، روانې اوبۀ دي او روانو اوبو کې حرکت او حرارت وي، ولاړو اوبو کې خبره ولاړه وي.

وګورئ !چې په دې ژوند کې څومره اړخونه دي ،څومره ټولنيز علوم دي،چېرته نفسيات،چېرته جماليات،چېرته سماجيات،چېرته مذهبيات،چېرته فلسفه،چېرته ساينس او چېرته نورې بلا خبرې دي؛ ژوند ډېر پراخ دی.

که دا رايه ولرو چې ژوند تکرار دی، ددې مطلب به دا وي چې په ټوله دنيا کې دې شعر ودرېږي، ځکه ژوند کې چې څۀ ؤ، هغه وويلی شو بس نور به تکرار ته کېنو.

خبره داسې نۀ ده، تخيل دې ته وايي چې د يوې خبرې نه بله پيدا کړی شي، د کايناتي اجزاوو نه نوی تصوير پېش کړی شي، نوی تصوير پېش کول د تخيل کار دی.

د شاعرۍ تکرار په دې ختميدی شي چې زړې خبرې په نوي انداز وشي.

》 جام دې نوی وي زړه صهبا پکار ده 《لکه د حمزه خبره مو چې مخکې وکړه.

ځينو ځايونو کې ممکن انداز هم بدل نۀ شي لکه زموږ په کلاسيک کې بلا شعرونه داسې دي چې د خوشال بابا،رحمان بابا،علي خان،حميد،کاظم خان،حافظ الپوری او نور کلاسيکو شاعرانو خيال بلکل نزدې کيږي او له خيال سره کله کله اسلوب،انداز يا ډېکشن، لفظيات او يا جوړښت سره ورته والی لري.

که د يو شاعر ټوله شاعري تکراري ووينو، دغه شاعري ارزښت نۀ لري، خو که په يو ديوان لس،شل يا يو څو شعرونه له نورو شاعرانو سره سمون وخوري، نو دا خو څۀ خبره نۀ ده ځکه انسانان ځينې مشترکه خبرې کولی شي، البته ډېر شاعران داسې هم شته چې نوی رنګ ورکوي.

يو دوه مثالونه پېش کوم چې يو شاعر د بل شاعر له زوړ خيال نه نوی ځنګه پيدا کوي، اثر يې اخلي خو د بيان انداز کې انفراديت راولي.

کاظم خان شيدا وايي چې :

ستا چشمان به څۀ نګاه کا په خاکسارو

چې له کبره دې بانۀ ګوري اسمان ته

ښکلی خيال دی چې د محبوب بانه چې اسمان ته دي، دا له ډېره کبره دي او د ځمکې په خلکو به څۀ نظر وکړي؟

اوس د حمزه بابا يوه نقطه خوښه شوي ده چې بانه چې د اسمان په لور کاږۀ دي نو دا کبر کوي، دا خبره يې له شيدا اخيستي او بيا يې خپل نوی رنګ اختيار کړی يا اضافه يې کړي ده،چې تخيل يې پکار راوستی او شعر کې يې ساده ګي هم شته.

ياره چې اسمان ته دې بانه ګوري

سترګې دې زما په مخ کې څۀ ګوري

که حمزه بابا شيدا نۀ وای لوستی نو هغه به د بانو اسمان د کتو استعاره ځنګه پيدا کوله او نوي اضافه يې ځنګه کوله؟

هغه شاعر چې وايي چې ژوند تکرار دی او موږ به تکرار شاعري کوو، نو دا شاعر دې شاعري پرېږدي، ځکه چې موږ ته د دغسې تکرار ضرورت نۀ دی چې فکر هم تکرار کړه او جوړښت هم تکرار کړه، بيا يې د شعر ضرورت څۀ دی؟ ځکه دا خبرې مخکې شوي او له دۀ نه په ښۀ انداز شوي.

که تۀ انداز بدلولی شې او يا زوړ خيال ته نوی رنګ ورکولی شې، نو تا ځان له تکرار نه په ډېره وساتلو يا تکراري خيال ته نوی انداز ورکړ، جوړښت،ترانم،تراکيب،استعاره يا بل څۀ کې دې نوی بدلون راوست، نو بيا دې ته موږ تکرار نۀ وايو.

خلاصه دا که هغه شاعر چې نۀ نوی خيال لري او نۀ نوی انداز، شعري بهير ورته ضرورت نۀ لري؛ خو که زوړ خيال ته نوی رنګ ورکوي يا انداز بدلولی شي بيا سمه ده.

داسې هم کيږي چې يو شاعر خپل خيال دوباره تکراروي، کاظم خان شيدا نه داسې شوي، چې يو خيال يې په بل شعر کې هم وي، خو انداز،استعارې،علامت او تراکيب يې د دواړو شعرونو بدل وي، نو بيا ويلی شو چې استاد شاعر دې ته وايي، ځکه د لومړي او دوهم شعر خيالونه يو دي خو بيا هم بدل ښکاري.

نو که شاعر له تکرار ځان بچ کول غواړي، نو تېز تخيل او نوی انداز ورته پکار دی .

طارق وزير :که يو شعر د اصولو په تله پوره وخېژي، خو کوم فکر پکې نهٔ وي او فقط د خوند لپاره وي؛ دا ښهٔ شعر کيدلی شي؟

حنيف خليل :دا پنځمه پوښتنه کې ډېرې ښې خبرې ته اشاره شوي او دا بايد راوسپړلی شي.

زموږ ځينې شاعران د غلط فهيمو ښکار دي، يعنې هغوی دا وايي چې شعر چې په شعري اصولو برابر وي نو دا شعر دی او ښهٔ شعر دی.

خو زهٔ بلکل ورسره متفق نهٔ يم، له شعري اصولو د دوی مراد شعري پېمانه ده، شعري پېمانه خو متعين ده مثلاً غزل ليکو د هغهٔ شعرونه وي،مطلع او مقطع وي،هر شعر بحر وزن لري،رديف او قافيه ده، نو که موږ يوازې دا شاعري ګڼو نو غلط فهمۍ کې يو.

شاعري يوازې په چوکاټونو کې د بې ځايه او بې مقصده خبرو اچولو نوم نهٔ دی،شاعري د فکر نوښت او رفعت نوم دی او داده چې ستا په شعر کې تخليقي زور څومره دی.

که موږ صرف اصولو ته راشو چې مثلاً د شعر اصول بحر، وزن دي دا به يا غزل وي يا نظم ازاد يا معرا نظم وي او معرا خو صرف وزن پکار دی؛ که داسې وي نو موږ پاکستاني مکتبونو کې پاړې ويلې، بيا خو پاړې هم شعر دی :ايک دوني دوني، دو دوني چهار، تين دوني چه، چهار دوني اٹ

هره مسره  وزن لري نو دې ته به هم معرا نظم وايو؟

که غزل داسې ووايو چې په ټولو اصولو برابر وي،قافيه،رديف،وزن او د پېمانې غوښتنې ټولې درستې وي نو موږ به بيا هم ورته شعر وايو چې هغه فکر نهٔ لري؟  نهٔ دا شاعري نهٔ ده.

مثلاً که زهٔ ووايم چې :د لرګي کټوۍ کې څيز کله پخيږي_چې څيزونه اور نه مخکې وسوځيږي

قافیه پکې راغله)پخیړي او سوځیړي (وزن هم لري، دې ته اوس څوک شاعري وایي؟

شعر په وزن او پیمانه شعر نهٔ دی بلکې په تخیل، تفکر، نوښت او په هنري چوکاټ شعر دی.

که شعر په شعري اصولو او پیمانه برابر وي خو چې تخیل ،مشاهده او نوښت پکې نهٔ وي،پاروونکی فکر او احساس نهٔ لري، نو بیا شاعري نهٔ شي کیدی.

اصول ګلکاري ده، ګِلکار دا کوي چې کومه خښته چېرته کېږدي، دیوال به څنګه مستقیم وي،بحر وزن به څنګه وي؛ که داسې شي نو بیا شعر نهٔ دی ځکه شعر فکر،تخیل،جذبې،احساس او نوښت ته ضرورت لري.

کوم څیز ته چې موږ شاعري وایو، دا په نثر کې هم کیدی شي، شاعري صرف منظومات نهٔ دي، د منظوماتو مثالونه مې درکړل چې هغسې منظومه ده خو شعر نهٔ دی.

ځینې خیالات او تفکرات به منظوم نهٔ وي خو شعر به وي، یعنې په نثر کې داسې خبرې کولی شو چې فکر،خیال،جذبه او احساس لري او د نورو احساس راپارولی شي، دا نثري شاعري ده، مشران ورته سپین شعر وایي.

نو شعر او منظومه بېل دي، شعر په تخیل او تفکر ولاړ دی، خو منظومه په وزن،بحر، قافیه او ردیف ولاړه ده .

طارق وزیر :په شعر کې هنري ابهام ته ضرورت شته ،که واضح بیان پکار دی؟

حنیف خلیل :د شعري ابهام په نوعیت باید پوه شو، کله کله موږ ابهام دې ته وایو چې شعر دومره پیچلی کړو، چې په هېڅ طور ترې مانا نهٔ راوځي او مانا د شاعر په خېټه کې پاتې شي.

لکه عرب چې وایي)المعناء فی بطن الشاعر (مانا د شاعر په خېټه کې ده، نو دا بیا ولې ولیکلی شو او د چا دپاره شو؟ دغه ابهام غیر ضروري، غیر افادي او بې مقصده دی او له دغسې ابهام نه واضح شعر غوره دی.

که ابهام په ایهام بدل شي نو ایهام پخپله یو شعري صنعت او تکنیک دی او ایهام دې ته وایي چې ابهام ښکلی کړی شي .دغه ډول ابهام خپل لوستونکی په ژور فکر مجبوروي،چې غوټې پرانیزي په علامتونو او استعارو پوه شي، نو بیا د ابهام د غوټې د پرانیستلو نه پس د شعر خوند یو په لس شي؛ دغه ابهام د شعر حسن دی او پرته له ابهام شاعري پروپاګنډه جوړیږي.

سییده ساده خبرې خو سیاست دان،ملا او ژورنالېست هم کوي چې استعارې،علامتونو او تلازمې پکې نهٔ وي دا خو بیا شعر نهٔ دی.

شاعري د علامت،تکنیک،استعارو،تشبیهاتو،بدایعو ژبه ده.

مثلاً که سیاست دان خبره کوي هغه به داسې وي چې په کشمیر د هندوانو قبضه پکار نهٔ ده ځکه دلته مسلمانان زیات دي؛ خو یو شاعر علامت او استعاره راوړي همدا خبره حمزه بابا په شعر کې کوي :

ځیر دې یم زلفو ته د مخ په تمه

زهٔ د هندوانو نه کشمیر غواړم

اوس غور وکړئ چې د هندوانو او کشمیر دپاره یې د زلفو او د مخ استعارې راوړې او دا د شاعر کار دی، یعنې مخ سپین دی د کشمیر له ښکلا سره تشبیه دی، زلفې تورې دي تشبیه یې له تورو هندوانو سره ده؛ نو چې تورې زلفې په سپین مخ راخورې وي مطلب یې دادی چې هنداونو کشمیر قبضه کړی.

ابهام درجې لري چې بیا د لوستونکو د ذوق درجې غواړي، مثلاً که ددې لړ زیات ابهام راواخلو نو بیا به د کاظم خان شیدا شعر وایو چې :

شگفته کړه لکه لمر جبین هر چاته

چې په تلهٔ دې سیاه پوش تمام جهان شي

خبره په ابهام کې شوي خو غوټې یې پرانیستلی کیږي او ابهام ابلاغ ته رسیږي نو لوستونکی د شعر په خوند پوهیدلی شي.

شیدا ویلي دي چې خپله تنده د لمر غوندې روښانه کړه، ځکه چې ستا د مرگ او پرېوتو نه پس ټول جهان تاپسې خپه وي، که لمر پرېوزي جهان تیارهٔ شي ټول جهان تور لباس اغوندي او لمر پسې خپه وي؛ ددې علامت مطلب دادی چې که ستا تنده روښانه وه نو ستا له مرگ وروسته به هم ټول جهان تورې جامې اغوندي.

دا ښکلی ابهام دی پرانستلی کیږي او ابهام د ایهام او ابلاغ مقام ته رسیږي.

ابهام تر دې هم اوچتې درجې لري په خپله رحمان بابا کې ګران شعرونه شته او شیدا خو داسې شعرونه لري چې هغه ډېر فني نزاکت غواړي، عام او سطحي ذوق لرونکي ته به یې هر شعر ابهام ښکاري.

شیدا وایي چې :

ما لباس ورپسې رنګ د ګل په شان کړو

لکه بوی هسې مې ووت له اغوشه

دا بیت عام لوستونکي ته ابهام ښکاري، خو پوه او با ذوقه یې غوټې پرانیزي او ابلاغ ته رسیږي نو هلته معلومیږي چې شعر څنګه وي.

شیدا بل ځای وایي چې :

چې سرور په مستعار کا شیدا واوره

د دهقان په دانه رقص د اسیا کا

اوس د عام ذوق لرونکي ته شیدا مشکل پسند او شعر مبهم ښکاري، خو د لوړ ذوق لوستونکی یې غوټې پرانیزي.

سرور په رقص کې دی او ځینې رقصونه داسې وي چې په خپل مزاج نهٔ کیږي ،په مستعار طبیعت کیږي او مستعار طبیعت دپاره شیدا مثال ورکړی چې" د دهقان په دانه رقص د اسیا کا "اسیا یعنې د ژرندې پل هم چورلي خو هله رقص کوي چې دهقان دانې ورته راوړي، شیدا د انساني ټولنې خبره کوي چې مستعار رقص مه کوه، څوک چې مستعار سرور حاصلوي یعنې د مفتو شراب څښي او مفت رقص کوي؛ په رقص کې هم چورلک وي، په میکده کې چې ساقي جام ګرځوي نو هغې کې هم ګردش وي او د ژرندې پل کې هم ګردش وي؛ دا ټول ګردشونه په یو بیت کې راغونډول د استاد شاعر کار دی او دا هغه ابهام دی چې ایهام او ابلاغ ته رسي او د لوړ ذوقه لوستونکو لپاره وي.

څوک چې په نظم کې ساده خبره کوي دهٔ سره شعر نهٔ شته، خو څوک چې په منظوماتو کې تکنیک راولي، نو دغه تکنیک که څهٔ هم د مبتدي لوستونکي دپاره به ابهام وي، خو د لوړ ذوق لرونکي دپاره به شعري تکنیک وي.

البته د مشکلې ژبې نه ځان په ډېره ساتل پکار دي، یعنې د ژبې مشکل دا چې موږ سره پښتو ساده او سوچه ټکي شته؛ نو ژبه کې ګنجلک، ټکي په زور راوړل، له نورو ژبو د هغو ټکو راوړل چې خپله ژبه کې بدیل لري، پکار نهٔ دي.

حمزه بابا یوه مسره داسې ده چې :ستا به جوهر د سخن دا وي چې ساده کړه ژبه

په ساده ژبه کې پوره تکنیک راولئ،علامتونه،تلازمې او استعارې راوړئ!

د حمزه دې شعر کې ژبه ساده خو شعري ټکنیک لري :

گوره سترگې چې مې ډکې ډکې کیږي

نوم د تگ په خولهٔ وانخلې باران راغی

ژبه یې اسانه ده خو دوه تصویرونه پکې دي ،یو دادی چې چې محبوب د تگ اجازت غواړي خو مین ورته وایي چې تهٔ مهٔ ځه !دوه قسمه باران راغلو؛ یو خو چې تهٔ رخصتیږې نو د ډکو سترگو باران رادرومي ، بل خوا بهر هم باران وریږي او باران کې څوک نهٔ ځي.

حمزه بابا وایي چې :

اشنا چې راشي خطا وار شي زما

حمزه !تر څو به خطا وار اوسمه؟

د لومړي خطا وار هدف وارخطایي ده او دوهم خطا وار د غلطي کوونکي مانا لري؛ یو خطا وار یې په دوو ماناوو کې استعمال کړ او ژبه ساده ده.

اخري دا چې ژبه دې ساده وي خو تکنیک دې موجود وي، شعر دې نېغ په نېغه نهٔ وي، شعر باید د سیاست دان،ملا او خبریال خبره نهٔ وي، بلکې باید د شاعر خبره وي او شاعر خبره په علامتونو، رمز او کنایه کې کوي.

# ناول

د ډاکټر صیب محب زغم دې کور ودان وي، چې د ډېرو بوختیاوو سره،سره یې د ناول اړوند زما څو پوښتنو ته ځوابونه راکړل.

د ناول په اړه له محب زغم سره د طارق وزیر مرکه

طارق وزیر :د ناول او لنډې کیسې د توپیر بحث مهم دی ځینې یې د کلیمو د شمېر له مخې بیلوي خو ځینې یې د پېښو او کرکټرونو د شمېر له مخې سره توپیروي، تاسو یې څنګه فرق کوئ او ولې؟

محب زغم :ناول ونه وبوله، لنډه کیسه څانګه .په لنډه کیسه کې معمولاً واحده موضوع، لږ کرکټرونه، او یو پیغام وي . ناول بیا په یوه لویه موضوع کې ګڼ نور فرعي موضوعات رانغاړلی شي؛ ډېر کرکټرونه په کې ځایېږي؛ او پیغامونه یې ښایي متعدد وي .د استاد غضنفر خبره ده چې» ناول لکه ژوند داسې خور وور دی «.نو طبعاً د لویې موضوع بیان ډېرې کلمې غواړي.

د ناول او لنډې کیسې بل توپیر په ځای زمان یا سټنګ کې ده .لنډه کیسه لکه د تیاتر د ډارمې یوه پرده په محدود مکان او زمان کې پېښېږي خو ناول ان د انسانانو د څو نسلونو کیسه راته کولی شي چې په مختلفو ځایونو او بېلو زمانو کې تېره شوې وي.

طارق وزیر:په پښتو کې داسې ناولونه وینئ چې موږ کولی شو چې نړیوال ادب ته یې ورکړو یا فکر کوئ چې د نړۍ خلک به یې ولولي؟

محب زغم :اصلي پوښتنه دا ده چې خلک ناول ولې لولي .انسان غواړي د نورو له حال احواله خبر شي؛ د نورو په عاطفي تجربو کې شریک شي؛ د هر چا د ژوند له رمز و رازه ځان خبر کړي .ناول زموږ دغه اروایي اړتیا پوره کوي .له بلې خوا د ټولو انسانانو عاطفي دنیا سره ورته ده او احساسات یې مشترک؛ همدا وجه ده چې موږ د یوه اروپایي یا د نړۍ د یوه بل ګوټ د انسانانو کیسې لولو او خوند ځنې اخلو .نو د نورې نړۍ وګړي هم زموږ کیسې د خوند لپاره غواړي .دا چې کوم ناول له نورو سره شریکولی شو، زما نظر دا دی چې هر ناول چې تلوسه ولري او په ښه نثر لیکل شوی وي؛ دا په دې چې دغه دوه توکي لوستونکي له ځانه سره اخلي .که د کیسې نثر ستومانوونکی وي، همژبی مخاطب یې هم نه لولي .همدارنګه که کافي تلوسه ونه لري او لوستل یې زور وغواړي، سړی یې په نیمه کې پرېږدي ځکه چې د ادبیاتو مطالعه شوقي کار دی، د مکتب کتاب یا د پوهنځي چپټر نه دی چې په لوستلو یې ځان مجبور وګڼې .له دې ورهاخوا ناول که هر رنګه وي، زما په ګومان خپل لوستونکي مومي، ځکه چې ذوقونه متفاوت دي . څوک فکر پاروونکې کیسه خوښوي، څوک هېښوونکې؛ د چا هیجاني او ډراماټیکې پېښې خوښې وي، د چا د مینې کیسه؛ یو په ناول کې د ژوند معنا لټوي، بل یې د تفریح لپاره لولي .نو هر پښتو ناول چې د داستاني نثر په معیارونو لیکل شوی او کافي تلوسه ولري، نورو ته د معرفي کولو دی .خو خبره که د سیالۍ وي نو نورې، په تېره بیا اروپایي ژبې، د ناول لیکلو څو پېړۍ او د نسلونو تجربې لري خو موږ ایله دا څو لسیزې مخکې ناول لیکل پیل کړي او هغه هم بې تسلسله .نو لکه څنګه چې د ژوند په نورو برخو کې د سیالۍ خبره نه شو کولی، په ناول کې به هم ځانونه غلي کوو.

طارق وزیر:ناول طبعاً پیغام لري خو تاسې څۀ فکر کوئ چې اولیت یې خوند دی که د ژوند د یوې موضوع اړوند پیغام؟

محب زغم :پټ یا ښکاره، پیغام په ناول کې خامخا وي .لیکوال طبعاً فکروال وي او چې ناول لیکي، خپل فکرونه له نورو سره شریکوي .خو پیغام خو په مقاله کې لا څرګند او د دلیلونو پر بنا ورکولی شو نو ناول ولې؟ په ناول کې لوستونکی له داستان سره یوځای ګام په ګام روان وي، پېښې یې څاري، له کرکټرونو سره یې ژوند کوي او په آخر کې پیغام پخپله داسې ورنه باسي، لکه له تروو نه چې څوک کوچ باسي .دغه پیغام په حقیقت کې د لوستونکي د ذهن محصول وي .هر څوک له خپلې پوهې، تجربې، او باورونو سره سم له ناوله بېل بېل پیغامونه اخلي .نو په دې حساب د ناول پیغام تر مقالې لا اغېزناک وي، لا ډېر عمر د لوستونکي په حافظه کې پاتېږي او لا ښه راخپلېږي .او په ناول کې خوند خو دی لازمي .خلک ادبیات د خوند اخیستلو لپاره لولي او که دا نه وي نو ولې به په یوه بل شي ساعت نه تېروي؟

طارق وزیر:شخصاً تاسې ناولونه د څهٔ لپاره لیکلي چې لوستونکي ترې خوند واخلي او که د خپل پیغام او فکر د شریکولو هڅه مو کړې؟

محب زغم :زه فکر کوم مهمه دا ده چې لوستونکي څه وایي .دوی خوند ځنې اخلي که نه .لیکوال خو طبعاً که فکر وړاندې کوي، که معلومات، که د یوې خاصې ایډیالوژۍ لپاره تبلیغ کوي او که لوړ انساني ارزښتونه پالي، په هر حالت کې هڅه کوي چې اثر یې خوندور وي .استاد محمد صدیق پسرلي کیسه کوله چې یو وخت یې خپلو دهقانانو ته» ملي هېنداره «ورکړه .دغه نکلونه دومره خواړه وو چې بزګرانو ورسره لیک لوست زده کړل .خواړه که څومره هم ګټور او صحي وي خو خوند په کې نه وي، د سړي زړه ورته نه کېږي .یوازې ناول نه، په هره لیکنه کې د خوند مالګه باید وي .پاتې شوه زما د زړه خبره :غواړم ناولونه مې په مزه مزه کې مخاطب فکر کولو ته راوبولي خو لاس مې په دې کار بر شوی دی، که نه دی؛ لوستونکي به یې ووایي.

طارق وزیر:ځینې په دې نظر دي چې بې فلسفې څوک شاعر کیدی نهٔ شي نو ناول لیکوال هم فلسفې او علم ته ضرورت لري؟

محب زغم :فلسفه نه، خو فلسفه‌ورزي غواړي .ليکوال که پر ژوند باندې فکر ونه کړي، د بشر ژورو تجربو ته ځير نه شي، د انسان پټ او ښکاره علايق او غوښتنې را ونه سپړي، نو اثر به يې برسېرن وي .برسېرن اثر ډېر عمر نه کوي او د مخاطب فکر او ذهن ډېره موده په ځان نه بوختوي .لکه اکشن فلمونه چې هماغه شېبه دې هيجاني کوي او خوند ترې اخلې، خو ساعت وروسته دې د ذهن له بامه الوتلی وي .کامياب ناول کلونه وروسته هم دريادېږي .د علم خبره خو نو داسې ده چې ځينې علمونه او فنونه د هر ليکوال بايد زده وي .مثلاً د خپلې ژبې په گرامر، ښکلا، آهنگ، موسيقي او د داستاني نثر په ځانگړنو بايد وپوهېږي او مدام يې تمرين کړي .د ناول جوړښت او تخنيکونه بايد ورمعلوم وي، بلکې دغه شيان يې داسې ور خپل کړي وي چې کله کيسه ليکي، هغه پخپله بې له دې چې دی پرې فکر وکړي، په ليکنه کې جاري شي .نور نو په ناول کې ممکن داسې خبرې يادې شي چې په خاص مسلک او تخصص پورې اړه ولري، مثلاً کرکټر ناروغ دی او روغتون ته ځي، يا ډاکټر دی نو ليکوال هغه ناروغي او د هغې د تشخيص او درملنې لارې چارې که په داستان کې راوړي، ورته بويه چې دقيقه مطالعه په کې وکړي .که څوک تاريخي ناول ليکي د تاريخ کافي مطالعه او د تاريخي پېښو د تحليل مهارت بايد ولري .د ساينس فېکشن ناولونه بيا د ساينس د اساساتو پوهه رانه غواړي .د فلسفي ناول ليکلو لپاره د فلسفي منطق، استدلال او نتيجه اخيستنې په ميتودونو بايد وپوهېږو .لنډه دا چې څومره د ليکوال د پوهې او معلوماتو ساحه پراخه وي، هماغومره ژورې معناگانې په ناول کې ځايولی شي.

طارق وزير:ځينې په دې نظر دي چې د هرې ټولنې ليکوال بايد د خپلو شرايطو او واقعيتونو مطابق ناول وليکي، مثلاً که تاسې پښتو کې د جرمني د واقعيتونو په رڼا کې ناول ليکئ يا د هغوی د ژوند مطابق وي نو د افغانانو په درد نهٔ خوري، تاسې يې په اړه څهٔ وايئ؟

محب زغم :دا خبره مخکې وشوه چې د ټولو انسانانو عواطف، غریزې، مینه او کرکه، سوله او جګړه، دوستي او دښمني ... يو شان دي .زموږ دردونه مشترک دي، هيلې آرزوګانې مو سره ورته دي، وېرې او اندېښنې مې ګډې دي . نو چې داسې ده د بل وطن کيسه به ولې خپله نه راښکاره کېږي.

طارق وزير:په ناول کې د رښتيا غونديتوب د اهميت په اړه راته ووايئ او په عمومي ډول دې اصل ته کومو پښتانو ليکوالو ډېره توجه کړې؟

محب زغم :رښتياغوندېتوب د رياليزم مکتب لپاره لازمي دی؛ ساينس فېکشن هغه دروغ دی چې ممکن سبا رښتيا شي؛ په سوررياليزم کې مثلاً مړی خبرې کوي، اروا د ښار په کوڅو کې ګرځي، يو انسان په مختلفو ادوارو کې د مختلفو کسانو په بدنونو کې ژوند کوي... ؛ جادويي رياليزم واقعيتونه زموږ له ماوراء الطبيعي او خرافاتي باورونو سره ګډوي ... نو هماغه خبره ده چې وايي» دروغ وايه، په شرع يې روغ وايه «.د هنر کمال همدا دی چې ناممکن هم درباندې د ممکن غوندې مني.

يو چا زما» کبې او مونوک «لوستی و .په دې ناول کې يو زلمکی چې ځيرک نومېږي، د کبانو ژبه زده کوي او ورسره خبرې کوي .وروسته بيا د کبانو د ژبې په اړه کتاب ليکي او دغه کتاب ټولو ژبو ته ژباړل کېږي .هر څوک چې په کور کې اکواريم لري او کبان ساتي، دغه کتاب اخلي .دغه سړي ويل :د ناول دا برخه مې چې ولوسته، ډېر خوند يې راکړ .په زړه کې مې وويل چې کاش رښتيا د کبانو ژبه زده کړو .وروسته مې پام شو چې دا خو کيسه ده، واقعيت نه دی .کبان کله خبرې کوي.

نو په ناول کې غير واقعي يا ناممکنې پېښې داسې بايد وي چې د لوستلو پر مهال، واقعي دنيا درنه هېره کړي او تا هم د تخيل جادويي نړۍ ته ورسره يوسي او لنډه شېبه هغه دروغ درباندې ومني چې په عادي حالت کې يې نه منې.

طارق وزير:د ناول له ژوند سره ورته والی يا واقعيتونو ته نږدې والی شرط دی که نورې خيالي دنياګانې هم بې ارزښته نهٔ دي او ګټې لري؟

محب زغم :له نورو ژانرونو سره د ناول او لنډې کیسې یو مهم توپیر دا دی چې دا تخیلي ژانر دی .زما په نظر، څومره چې د ناول په پنځولو کې تخیل زیات نقش ولري، هماغومره یې ارزښت ډېر وي .مخکې د ناول د مختلفو ډولونو او له واقعیت سره یې د تړاو خبره وشوه نو تکرار ته به یې ضرورت نه وي.

طارق وزیر :په شعر کې د خیال،تصویر،ضمني مانا،سمبول...د شتون له امله چې دا شیان یا نۀ ژباړل کیږي یا سخت دي، نو ځینې شعر ژباړل شعر وژنه بولي؛ د ناول ژباړه هم ممکن د سمبول،کنایې، تصویر،متل،د ژوند سټایل...په وجه سخته وي، خو په ټوله کې تاسې څۀ نظر لرئ چې د ناول ژباړه څنګه ده؟

محب زغم :شعر غیر مستقیم بیان دی نو که د شعر کلمې ژباړې، هغه ممکن په بله ژبه کې بې معنا شي یا اقلاً د فکر او عاطفې د پارولو هغه قوت چې په کې وي، هغه پاتې شي .که یې مفهوم ژباړې نو دا به داسې وي لکه نوی شعر چې پنځوې .دا کار یوازې شاعر کولی شي .زما په نظر د شعر بهترینه ژباړه همدا ده چې شاعر د هماغه مفهوم زړی را واخلي او د خپلې ژبې خاوره کې یې وټوکوي.

د ناول ژباړل هم ستونزمن کار دی خو د شعر د ترجمه کولو هومره نه .په ناول کې هم ممکن استعارې، کنایې، سېبمولونه او متلونه راشي او تحت اللفظي ژباړه یې کار خرابوي خو دا چې د ناول ژبه مستقیمه ده، ژباړل یې ډېر لانجمن نه وي.

په ټوله کې هر ادبي اثر په یوه فرهنګي لوښي کې بوټېږي او د هماغه فرهنګ دود-دستور، کړنې-انګېرنې، باورنه-عقیدې او تاریخي پس منظر منعکسوي .که ژباړن لس پنځلس کاله په جرمني کې اوسېدلی وي او د دې ژبې ناول

ژباړې، تر هغه ژباړن به يې بهتره ترجمه کړي چې جرمني ژبه يې ښه زده ده خو په جرمني کې يې وخت نه دی تېر کړی .د شعر او ناول ژباړه په حقيقت کې د يوه کلتور ژباړه ده او په رمز او راز يې پوهېدل په کار دي.

# شپږم حس

موږ تل لوستي چې انسان پنځۀ حواس لري خو ممکن ځينو ته جالبه وي،چې شپږم حس هم شته.

پر دې موضوع پښتو کې خاص څۀ مخې ته نۀ دي راغلي نو ځکه مې وغوښتل چې په اړه يې له ارواپوه عمران انګېز صيب سره خبرې وکړم، د انګېز صيب دې کور ودان وي چې زحمت يې وايوست او زما پوښتنې يې ځواب کړې.

طارق وزير :شپږم حس څۀ شی دی؟

عمران انګېز :تاسې وپوښتل شپږم حس څه شی دی؟ شپږم حس د انسان پېژندنې يوه نتيجه ده د انسان پېژندنې بېلابېلې زاويې دي؛ د پخوا نه راديخوا انسانان ډېر مرموز رازمند موجودات ګڼل شوي دي .د ډېرو مخکينيو پېړيو يوه نتيجه دا وه چې انسان کاملاً روحي موجود دی چې دا په عرفان، فلسفه او تفکر کې چې تر اتلسمې او نوولسمې پېړۍ چې آن تراوسه پورې د فلسفې او عرفان په يو خاص کانال کې په همدې نتيجې راغلې ده .د هيګل په شان لوی فيلسوفان انسان ته په همدې شکل ګوري چې انسان روح دی نو په دې اساس چې دوی انسان روح ګڼي نو دوی د انسان په وېشه او تجزيه کولو او وجودي ډول پېژنه کې يو ډول حس يو ډول وضعيت چې د عام پېژندنې نه ور هاخوا ده، دا يې ورسره منلې دا يوه طبقه خلک دي او يوه بله طبقه خلک چې انسان فزيکي موجود ګڼي نو دا شپږم حس موضوع ډېره دوی پورې مربوط کيږي چې انسان يوازې روح ګڼي .يو تعداد يې بيا داسې دي چې وايي انسان فزيک لري وجود لري او همدا بدن يې اصل دی او د ژوند چارې يې همدې بدن پورې مربوطې دي .دا بدن بيا له طبيعيت سره په اړيکه کې تجزيه شوی دی چې څو ډوله اړيکې پېژندل شوي دي او هره اړيکه د حس په نامه ياده شوې ده يعنې هر يو شی يو حس دی او مونږ يې له طبيعيت څخه د ذوق، ليد او لمس پر اساس پيدا کوو نو دې هر يو حس ته مو يو نوم ايښی دی چې دا پنځه حسه يې ډېر مشهور دي خو له دې ور هاخوا ته يو بل څه دي چې کله کله يې انسان درک کوي چې هغه ډېر غير معمولي دي هغه ته شپږم حس ويل شوی زما په باور شپږم حس د انسان پېژندنېد يو خاص ډول يوه خاصه نتيجه ده چې ډېری ورسره موافق نه دي او د ډېرو لږو خلکو ترمنځ دا حس مطرح دی .

طارق وزیر:مشخاً په لومړي ځل د شپږم حس موضوع باندې چا بحث وکړ؟

عمران انګېز :که تاسې فکر کړی وي په لومړنيو خبرو کې يوه طبقه خلک وو چې انسان يې يوازې روح ګڼلو لومړی بحث هم همدوی پرې کړی مشخص به داسې څوک نه وي ووایو فلانی لومړنی کس وو چې د شپږم حس موضوع يې را برسېره کړه .ما خپلو خبرو کې وويل چې هېګل په خپل فلسفي سيستم کې په ډيالکتيک ډول دغه معرفت ته انطباق ورکړی .همداسې ډيکارټ او افلاطون هم خپل خپل نظرونه ددې نادر حس په اړه څرګند کړي

طارق وزیر :ځينې ارواپوهان نوښتګر تصور او اختراعي تخيل ته هم شپږم حس وايي، تاسې يې په اړه څۀ نظر لرئ؟

عمران انګېز :ما مخکې يوه شاره وکړه چې شپږم حس يو نادر او استثنايي حس دی کله چې د نادر او استثنايي خبره کوو طبعاً به ددې حس له ګېډې نوښتونه، غير قابل تصور خبرې او ځيني داسې فکرونه راوځي چې نورو ته به ځانګړي او نوي وي .که دلته د حمزه بابا يو بيت راواخلو هغه وايي:

چې خپل غزل د چا نه واورم حمزه

وايم چې چا هسې وينا کړې ده؟

دلته شاعر خپلو هغو ليکنو او شعرونو ته پام چې ممکن  همدې حس زيږولي وي حتا خپله ده ته هم نوې وي او د نوموړي نورو پنځو حسونو ته هم خو ترې خبر نه وي چې اصلاً دا خبره ما څنګه کړې؟ بيا يې ددې نورو حسونو په ذريعه تحليلولی او معنا کولی شي.

طارق وزیر :له دې نورو پنځو حسونو سره يې توپير څه دی؟

عمران انګېز :اصلاً که ووایم وزیر صیب دا پنځه حسه هم خپل منځ کې توپیر لري دا پنځه واړه حسه هر یو یې د طبیعیت سره د انسان پېژندنه او اړیکه د دده د وجود کیفیت او وضعیت تعینوي مثلاً د لامسې حس له لارې چې انسان پېژندل کیږي یا نړۍ او طبیعیت پېژندل کیږي نو یو خاص ډول وضعیت منځ ته راځي عیني شی د باصرې حس، د لامسې حس او دا نور یې؛ د همدې پنځو حسو خپل منځی توپیر ته چې سړی وګوري.

همداسې د بل حس ځیني ممکن د اووم او اتم حس ادعا هم وکړي آن ځینو تر لسم حسه پورې هم ویلي دي .یوه ډېره استثنایي او نادره اړیکه چې طبیعیت سره جوړیږي هغه دوی یو حس ګڼي چې ځینو یې ویلي دي چې وحې او الهام هم بېل بېل حسونه دي مثلاً وحې د میټافزیک سره د انسان اړیکه ده چې پیغمبران یې برقراره کولی شي هغه حس یوازې دوی لري .الهام د ځینو لوړو شخصیتونو چې ډېر پوخ او کیفي وجود لري هغو پورې اړوند دی او یو حس دی؛ نو د شپږم حس توپیر له نورو سره دا دی چې یوه خاصه اړیکه او یو خاص وضعیت د طبیعیت او د دوی د وجود ترمنځ منځ ته راوړي او ډېرو استثنایي حالاتو کې ورته انسان متوجه کیږي او معمولاً حیرانوونکی وي .

طارق وزیر :ایا ټول خلک شپږم حس لري؟

عمران انګېز :دا انسان پېژندنې پورې اړه لري وزیر صیب پیل مې ځکه د انسان پېژندنې څخه وکړ چې مونږ دغه ډول انسان پېژندنه ومنو چې انسان یوازې فزیکي او بدني موجود او دا بیا په حواسو تجزیه کوو نو ځکه ویلی شو چې ټول انسانان فزیک لري بدن لري او کولی شو ووایو چې یو حس دی چې هغه ددې پنځو حسو ور هاخواته دی او شپږم حس لري .خو له بل پلوه ممکن شپږم حس د ډېرو خاصو، فعالو او ځیرکو انسانانو خاصیت وي چې دوی کولی شي له طبیعیت سره له هستۍ سره داسې اړیکه جوړه کړي چې هغه ډېره ځانګړې وي.

طارق وزیر :شپږم حس کوم وخت کې فعالیت کوي او کومه ځانګړې دنده لري؟

عمران انګېز :مونږ تل له هغو پدیدو او زاویو سره تړي چې په نورو وختونو کې ناممکنه وي مثلاً زمونږ اړیکه له یو ملګري سره له ډېر لرې نه جوړوي، مونږ د یو څه په پوهیدو کې ډېرو ژورو ته بیایي مونږ ناڅاپه د ځینو پدیدو له وضعیت څخه خبروي، ډېر وخت انسان ته یو خاص معرفت ورکوي یوه خاصه پوهیدنه ورکوي د ځینو شیانو په هکله

انسان یو ناڅاپه پوهیږي چې بیا د انسان په خپل اختیار کې نه وي، ځیني خلک یو څه ګوري بیا یو څه وایي بیا دلته دا خبره کیږي چې دی د لید له حس څخه دا خبره نه کوي دا د شپږم حس څخه لګیا دی مثلاً د یو څه ګرموالي باندې پوهیږي د یو څه په خطر باندې پوهیږي د یو څه په حرکت باندې پوهیږي یو څه په پایله باندې پوهیږي دغه ټول اټکلونه چې په قوي معنا باندې واقع کیږي دا شپږم حس پورې مربوط دي د ځینو له نظره دا یې هم ګڼه ده او هم یې کار کړنه ده او د ځینو له نظره دا ډېر ګواښوونکی او خطرناک حس هم دی او آن ځیني یې رواني اختلال ګڼي .

طارق وزیر :تاسې وایئ چې په خطر پوهیدل یو حس دی، په حرکت پوهیدل حس دی .پوښتنه داده چې موږ د لیدلو حس لپاره سترګې او د اوریدو لپاره غوږونه لرو؛د خطر، حرکت،وارخطایی ...حسونو غړي کوم دي چې دا کارونه سرته رسوي؟

عمران انګېز :شپږم حس یو نادر او استثنایي حس دی دا ناڅاپه فعالیږي د همدې پنځو حسونو څخه زیږي مخکې مې د لید مثال ورکړ چې یو څوک به یو شی ګوري خو خبره به د لید له زاویې څخه نه کوي له دې حسو ور هاخوا چې شپږم حس ورته ویلی شو دا خبره کوي په داسې حال کې چې هغه کار به د لید حس کړی وي .یو ناڅاپي حس دی.

طارق وزیر :یو څوک کولی شي چې شپږم حس په ځان کې وروزي؟

عمران انګېز :هو کیدلی شي خو مهمه دا ده چې مونږ دې خپلو نورو حواسو سره څه کړي دي یعنې که مو د لید حس روزلی وي که مو د ذایقې حس روزلی وي که مو د لمس حس روزلی وي نو دا حس هم روزلی شو خو که مو دا حسونه نه وي روزلي دې ته مو پام نه وي کړی رسیدګي مو ورته نه وي کړې او یوازې د ډېرو مرموزو پېژندنو او حالتونو پسې یاستو بیا فکر کوم په هغه صورت کې دومره اسانه نه ده او بیا په ټوله کې دا د هر چا لپاره هم نه دی او که یې څوک ولري هم کیدای شي ډېر  ورته متوجه شوی وي او په ټول عمر کې ډېر لږ متوجه شوی وي چې دې حس ماته لږ کار کړی دی او ډېره لږه داسې زمینه مساعده شي چې دی دا خپل حس تشخیص کړي او بیا د هغه لپاره دا چانسونه او فرصتونه وي چې دا حس وروزي او په دې به ډېر کم کسان وپوهیږي چې ددې روزنه څنګه کیږي.

# هندي سبک

د هندي مکتب د ځانګړنو،پسمنظر،لارويانو،ماخذونو او مضمون افرينۍ په اړه په دې مرکه لوستلی شئ، همدارنګه پر شيدا او استاد پسرلي هم خبرې شوي او دا چې د دغه مکتب ځانګړنې په اروپايي ژبو کې شته او کنه؟ د دې موضوعاتو سربېره د هندي مکتب په اړه نور هم ډېر څۀ لوستلی شئ.

د مرکې ميلمه مې د قائد اعظم پوهنتون ډايريکټر ډاکټر حنيف خليل دی.

طارق وزير :د هندي مکتب له پېژندنې وړاندې به د سبک پېژندنې ته ورشو، سبک څۀ ته وايي؟

حنيف خليل :سبک د عربۍ ژبې کليمه ده او په عربۍ کې سبک دې ته وايي، چې کله کومه اوسپنه ويلي کړای شي، نوي سانچۀ کې واچولی شي او نوی شکل واخلي؛ اصطلاحاً چی لفظونه،تراکيب،تشبيهات،استعارې ...راغونډوو،د يو خيال د بيان لپاره يې په کار اچوو، د شعر نوی شکل ټاکو نو دا زموږ د شعر سبک جوړيږي.

د سبک لپاره بله عربي کليمه اسلوب هم کارول کيږي چې د داسې سليقې،طرز،روش او طريقې په مانا ده چې په هغې کې ځانګړتيا او انفراديت وي او اجتماعيت پکې نۀ وي، له دې ځانګړنو يو شاعر پېژندل کيږي.

پخوا به د مومو پر تختو چې کوم نقش و نګار کيدلو نو له شيلي نومي څيز به يې ګټه اخيسته چې يوه تيره څوکه به يې درلوده - دا نوم د سانسکريټ ؤ او ددې نقش به ځانګړی ؤ، نو همدا لغت په هندۍ ژبه کې د ادب د ښايست دپاره هم وکارېد، چې دا هم د سبک او اسلوب مانا لري.

په انګليسي کې ورته style وايي چې دا له ادب ورهاخوا د نورو هنرونو د ځانګړتيا لپاره هم استعماليږي .تر دې چې د ادب او هنرونو نه پرته د نورو شيانو د پاره هم د ځانګړتيا له مخه کارولی شي.

طارق وزير :د سبک او مکتب توپير څۀ دی؟

حنیف خلیل :سبک ځانګړی او مکتب اجتماعي وي، سبک ورو،ورو په مکتب بدلیږي.

موږ وویل چې سبک د یو شخص ځانګړي لاره ده چې شاعر یا لیکوال پرې پېژندل کیدای شي.

که چېرې په دې ځانګړي اسلوب کې زړه راښکون او زور وي،نو هغه نور خلک هم پیروۍ ته رابولي، کله چې څو کسان یې پیروي وکړي نو سبک په مکتب بدل شي او د یو ځانګړې لاره اجتماعي او د ډېرو پېژندګلو جوړه شي.

مکتب په یو شخص، سیمه او زمانه پورې تړل کیږي.

سبک چې کله اجتماعي شي نو بیا ورته مکتب ویل مناسب دي، مثلاً د هندي سبک اصطلاح عامه ده خو هندي مکتب باید ورته وویل شي ځکه دا سبک د سیمې،جغرافیې او زمانې په لحاظ اجتماعي شوی دی.

هندي سبک ویل هغه وخت مناسب ؤ چې کله چا ایجاد کړی ؤ، ځانګړی او یو شخص پورې مربوط ؤ.

نو باید متوجه شو چې کوم سبکونه چې اجتماعي شوي او ډېرو یې پیروي کړي هغه سبکونه نهٔ دي پاتې، بلکې مکتبونه ورته ویل کیږي .

طارق وزیر:عموماً څلور مکتبونه ډېر مشهور دي د څلورو واړو په اړه لنډ معلومات راکړئ !نور به اصلي موضوع) هندي مکتب (ته راشو .

حنیف خلیل :څلور مکتبونه ډېر مشهور دي او د څلورو واړو تخصیص په فارسي شاعرۍ کې شوی دی او له فارسي وروسته په نوره مشرقي شاعري کې دا مکتبونه خوارهٔ شوي دي.

۱:په فارسي کې تر ټولو پخوانی مکتب عربي مکتب دی،کله چې په ایران د عربو اثرات وشول نو تر ډېره ژبني اثرات ؤ چې د عربو توري فارسۍ ته ورغلل .د عربۍ د تورو او پېژندګلوۍ له وجې یې عربي مکتب بولي.

۲:له عربي مکتب وروسته دوهم مشهور مکتب خراساني مکتب دی،په دې مکتب کې زیاته پاملرنه ساده ژبې ته شي، د دې په خاطر چې د موضوع او محتوا ابلاغ موثر وشي.

ټينګار په ابلاغ ؤ نو ځکه ساده ژبې ته ضرورت ؤ .دغه سبک او بيا مکتب د فارسي غزل له ابتدايي دور سره تعلق لري .رودکي او له هغه وروسته ځينو نورو شاعرانو يې پيروي کوله.

۳ :له خراساني وروسته عراقي سبک رامنځته شو، په دې مکتب کې زياته پاملرنه د موضوع او مفهوم پر ځای تکنيک ته وشوه، چې په غزل کې بايد تخيل،استعارې،سمبولونه،تشبيهات،موسيقي او تغزل راشي او هدف يې د شاعر ممتاز ښکاره کيدل ؤ.

جامي،سعدي او حافظ غوندې لويو شاعرانو يې پيروي کړې ده.

حافظ د ښو موضوعاتو لکه اخلاقيات،انساندوستي او تصوف د راوړلو ترڅنګ د غزل تکنيک عروج ته رسولی او دا سبک يې د تقليد قابل کړی.

تر دې وروسته هندي مکتب رامنځته شو چې تاسې يې يادونه کړې چې د مرکې اصلي موضوع ده نو هغه باندې هسې هم تفيصلي خبره راځي .

طارق وزير :د هندي مکتب په اړه ځينې معتبر ماخذونه راته وښايئ !

حنيف خليل :څلور ماخذونه به دروښايم چې د هندي مکتب ځانګړنې او پس منظر پکې دی.

لومړی د ملک الشعرا بهار فارسي کتاب) سبک شناسي (دی چې د فارسي شاعرۍ ياد شوي ټول مکتبونه پکې معرفي شوي دي.

دوهم فارسي کتاب) صور خيال در شعر فارسي (دی چې پر هندي مکتب سربېره په نورو مکتبونو هم تبصره شوي چې شفيع کدکني ليکلی دی.

دريم فارسي کتاب) طلا درمس (دی چې دا هم د رضا براهني دی، په دې کې هم په ټولو سبکونو ښۀ بحث شوی دی.

څلورم په اردو کې د شيبلي نعماني کتاب هم مهم دی چې) شعر العجم (نوميږي، چې د فارسي ادب او شاعرۍ تاريخ پکې دی .پنځۀ ټوکه دی او وروستي ټوک کې پر هندي سبک تبصره شوي ده.

په پښتو کې هم ځينې اثار شته .

طارق وزير :اوس به د هندي مکتب پس منظر ته راشو، چې په اړه يې معلومات راکړئ او هغه شرايط هم وښيئ چې د دغه مکتب منځته راتگ لامل شوي دي؟

حنيف خليل :هندي سبک په لسمه هجري پيړۍ کې رامنځته شوی چې په ايران کې د صفويانو دور ۇ او تر دې مخکې تيموري واکمني وه چې په اواخرو کې يې په شاعرۍ بدلون راتللو خو د صفويانو په راتگ کاملاً د فارسي شاعرۍ روح بدل شو او له دې بدليدونکي روح سره هندي سبک مخې ته راغلو.

د وخت سياسي شرايط داسې وو چې انتشار او ذهني پريشانۍ خورې وې، نو شاعران د ذهني ارامۍ او سکون په لټون وو چې له دغو گډوډيو فرار ورته په برخه شي، نو ځکه يې فلسفې،کايناتي مشاهدې او د غزل تکنيک ته زياته توجه وکړه.

دوهم لامل دا ۇ چې ايران کښې د شاعرانو قدرداني کمه شوه، هغه اکرامونه او عزت چې تر دې مخکې د شاعرانو په برخه وو بيخي کم شول، نو شاعرانو هند ته مخه کړه ځکه هند کې مغل حاکم وو، چې د شاعرانو قدر يې کاوه .مغل خپله ليکوال،شاعران او د ښکلو هنرونو مينوال وو.

د هند اب هوا،موسم او حلات ډېر زرخېز ۇ چې ذهنونه به پکې تازه وو، ځکه شاعرانو کايناتي او ژورې مشاهدې،تازه مضامينو او د ادب مطالعې ته توجه وکړه.

بل لامل دا ۇ چې کله له ايران شاعران هند ته ولاړل نو هلته نور نازکخيال شاعران موجود وو.

يو بل مهمه خبره چې محققينو را اخيستي ده، په فارسي کې د مولانا،حافظ او سعدي شاعرۍ پر عوامو دومره پخه قبضه وه چې د هغوی څخه نوي رنگ شاعري نۀ کيدله.

تر حافظ لوی شاعر نۀ ۇ نو تازه گويي نۀ وه چې دغسې پر غزل جمود راغی.

د غزل جمود ماتول پکار ۇ چې څۀ وخت خاموشي هم راغله خو وروسته تازه گويي پيل شوه او هڅه دا وه چې تر پخوانو بدله او نوي رنگ کې شاعري وشي چې هندي سبک رامنځته شو .

طارق وزیر :د هندي مکتب تعریف څۀ دی او هغه مهمې ځانګړنې چې موږ پرې هندي مکتب پېژندلی شو کومې دي؟

حنیف خلیل :په هندي سبک کې بینادي خبره تازه ګویي او د بیان نوی انداز خپلول ۀ.

د بیان نوی انداز په نوو تشبیهاتو،نوو استعارو،سمبولونو او ترکیبونو خپلول پکار ۀ، چې د فارسي شاعرۍ روایت باید بدل کړي.

نوي کایناتي مشاهده هم لازمه بلل کیده.

دوهمه خبره پکې دا وه چې خبره باید ساده او اسانه نۀ وي، ځینې شاعران فقط د مضمون د رسولو هڅه کوي، خو دوی وغوښتل چې نوي خبره دې په جدید او پیچلي انداز کې وړاندې کړی شي،یعنې خبره دې په غوټو کې وي چې د پوهیدو لپاره باید غوټې پرانیستل شي چې د خوند اخیستلو سبب ګرځي؛ د دوی مشکل پسندي فقط په لفظونو کې نۀ وه مشکل پسندي په تکنیک کې هم وه .دا مشکل پسندي په ابهام نوي صنعت بدله شوه یعنې یو څۀ داسې پرېښودل چې لوستونکی په غور کولو مجبور کړي ابهام بلل کیږي.

د مشکل پسندي لپاره به یې د فلکیاتو خبرې،د جغرافیې د مختلفو اړخونو خبرې او د جغرافیې له علم شعري اصطلاحات را اخیستل، ساینسي شعور او فلسفیانه انداز خپلول د شعر برخه شوه او شعر یې مشکل کړ.

بله مهمه ځانګړتیا پکې مثالیه اسلوب) مدعاالمثل (وه، دوی به په یوه مسره کې ادعا کوله او بله کې به یې د ادعا د اثبات لپاره دلیل راوړلو.

حس امیزي هم پکې مهمه وه، کله چې په انساني حواسو کې د یو حس دنده بل ته ورکړل شي دې ته حس امیزي وایي؛ لکه سترګې لیدل کوي خو که ووایو چې سترګې ویل کوي نو دا حس امیزي ده.

بله خاصه یې تخیل امیزي وه، یعنې د لفظونو له لارې د تصویرونو جوړولو ته وایي .د خیال کولو په مرسته د نوي خیال سازول په هندي سبک کې مهم شی ۀ .نوی خیال مطلب نوی تصویر جوړول ۀ چې فارسي شاعرانو به ورته محاکات ویل،محاکات هم د تخیل په زور د نوي تصویر سازولو ته وایي .دوی به په دې کې مبالغه کوله، تر دوی وړاندې شاعرۍ کې د تخیل په نسبت په فکر یا تفکر تمرکز ۀ،نو فکر کې مبالغه کمه وي،فکر ژور او خیال لوړ

وي،په فکر کې مبالغه نهٔ وي او په خیال کې مبالغه وي،د خیال په مرسته جوړ شوي تصویرونو ښکلا او خوند پیدا کوي.

بل دوی ځانګړي او نوي سمبولونه راوړل، لکه) شمع (چې یو سمبول دی چې فارسي او پښتو شاعرانو په ګڼو ماناوو کې استعمال کړی دی،) حباب (بل علامت دی په مختلفو مختلفو ماناوو کارول شوی خصوصاً کاظم خان شیدا په ډېرو ماناوو راوړی دی،) موج (یو بل سمبول دی ګڼ مفهومونه یې لرل،)ګرداب (هم استعمالیدهٔ یا) ګرد باد (چې موږ ورته د پیریانو ډولۍ وایو په زیاتو ماناوو راغلو،چې دا نوي سمبولونو د هندي سبک پېژندګلو باندې بدل شول.

نو پورته ځومره ځانګړنې مو چې بیان کړې دا چې به د کوم شاعر شعر کې وې نو هغه یې د هندي سبک لرونکی بالهٔ .

طارق وزیر :هغه لومړنی شاعر چې دا ځانګړنې ددهٔ په شعر کې وې یا د دې مکتب بنسټګر یې بولو، څوک دی او د دې مکتب په فارسي کې پیروان څوک ؤ؟

حنیف خلیل :د دې مکتب بنسټګر د فارسي شاعر بابا فغاني دی،چې صفوي دور ته نږدې تېر شوی.

په فارسي کې بابا فغاني،صائب تبریزي،شوکت بخارایي،طالب املي،میرزا بیدل دهلوي او ځینې نور د دې مکتب لوی شاعران دي .

طارق وزیر :څهٔ فکر کوئ چې په پښتو کې د هندي مکتب لوی او په ټوله مانا له ځانګړنو برخمن شاعر څوک دی؟

حنیف خلیل :پښتو کې یې لومړنی شاعر حمید بابا دی، که څهٔ هم د رحمان بابا ځینو شعرونو کې هم د هندي مکتب ځانګړنې موندلی شو خو رحمان بابا مشکل پسند نهٔ ؤ او د عراقي سبک پیرو ؤ.

ځینې نور شاعران هم شته چې ځینې ځانګړنې یې په شعرونو کې شته خو په ټوله مانا د هندي مکتب شاعران نهٔ دي لکه :علي خان،کامګار خټک،بیدل هشنغری،خواجه محمد بنګش،حنان بارکزی،پیرمحمد کاکړ او شمس الدین کاکړ .

زما سکوټه رایه داده چې په پښتو کې د هندي مکتب شاعر ایکي یو دی او هغه کاظم خان شیدا دی،په دې نورو نومونو یې اغېزې شته خو دوی نۀ د هند ادبي ماحول لیدلی دی،نۀ یې د هند په اب و هوا کې شاعري کړې ده،د هند د زرخېزې ځمکې اثرات یې هم نۀ دي اخیستي، او نه یې د هند د حاکمانو له خوا د شاعرانو قدرداني لیدلې ده چې ورسره نور تشویق شوي واې - دوی فقط په خپل وطن کې د هندي مکتب ځانګړنې مطالعه او خپل شعر کې ګډې کړې دي.

نو تکراراً وایم چې پښتو کې د هندي مکتب شاعر فقط کاظم خان شیدا دی او دا نورو کې یې فقط ځینې ځانګړنې دي.

په فکري ژور والي او تخیلي لوړوالي کې بلکل سیال نۀ لري .

طارق وزیر :تاسې وویل په پښتو یوازینی شاعر شیدا دی چې د هندي مکتب شاعر دی، یوه پوښتنه داده چې د هندي مکتب د پیروۍ لپاره په هند کې اوسیدل لازمي دي؟

بل د ځانګړنو په لحاظ استاد صدیق پسرلی هغه شاعر دی چې ستاسې ټولې بیان کړې ځانګړنې ددۀ په شعر کې په پراخه پیمانه موندلی شو.

مثلاً :له مدعالمثل یې شاعري ډکه ده او ټول مثالونه یې خپل دي :

مه کوه پسرلیه له تقلیده د عروج تمه

وګوره سایې ته که د غرونو هم وي پسته ځي

حس امیزي هم پکې پریمانه ده :

اخر یې عشق دومره حساس کړمه چې ناز یې اورم

که په حیا یې رنګ هم الوځي پرواز یې اورم

د شمع سربېره پریمانه سمبولونه پکې شته،پاراډوکس لري.

کایناتي مشاهدې یې کړي او خپلې تجربې یې شعر کړي دي.

مهمه خبره داده چې دا ځانګړنې خال خال هم نۀ دي بلکې تقریباً هر بیت کې یې یوه نۀ یوه ځانګړنه موندلی شو، نو فکر نۀ کوئ چې له شیدا سربېره استاد پسرلی هم د دې مکتب لوی شاعر دی؟

حنیف خلیل :کله چې دا سبک منځته راتلو نو هغه وخت کې لوی غوښتنه په هند کې اوسیدل ؤ، وجه یې دا وه چې د هند دوه قسمه اغېزې وې :یو د هند د موسم،ماحول،د ځمکې زرخېزي،جغرافیې او د طبیعي حالاتو تاثیرات ؤ چې ذهنونه به پکې زرخېز ؤ او د هندي سبک باریکۍ او فني نزاکتونه د شاعرۍ برخه شوه.

دویمه اغېزه د ټولنیز ماحول وه،چې هند بدل شرایط لرل حکمرانانو به شاعرانو ته روزنه او مراعات ورکاوه او ماحول یې ورته جوړواه.

دا د لومړي دور خبرې وې خو ضرور نۀ ده چې نور دا سبک ختم شو بلکې سبک په مکتب بدل شو او هر څوک چې غواړي په هر دور او هر ځای کې یې پیروي کولی شي .

اوس وخت کې حتی د حمزه بابا په شعر کې هم ځینې ځانګړنې لیدلی شو خو په هغه پیلچتیا نۀ دي راغلي چې څنګه شیدا راوړي، دی هم له شیدا متاثر دی .

د پوښتنې دوهمې برخې ته به راشم.

په اوسني دور کې که په کامله توګه له پوره پیچلتیا سره د هندي سبک ځانګړنې په چا کې وینو، هغه استاد پسرلی دی.

استاد پسرلي د هندي سبک ټول شاعران ډېر ژور لوستي لکه:طالب املي،غني کشمیري،بیدل دهلوي،کلیم کاشاني...

د پسرلي صیب مزاج هم ورته جوړ ؤ چې دۀ دا ځانګړنې خوښولې.

بل پسرلي صیب په پښتو کې کاظم خان شیدا هم ډېر دقیق لوستی دی.

نو په نن دور کې د هندي سبک د ځانګړتیاوو لیدنه تر ټولو ډېره په پسرلي صیب کې کیږي.

نن هم د هندي مکتب پیروي کیدلی شي چې اوس یې هم ځینې شاعران کوي.

که لومړي دور ته ځو نو هلته د جغرافیې،حکمرانې طبقې او سیاسي حالاتو ژور اثر ؤ چې اوس وخت کې د هغو اثراتو د اغېزې ضرورت نۀ شته.

زموږ مخې ته د هندي مکتب شاعران پراتۀ دي چې ټول ټکنیکونه یې خپلولی شو لکه پسرلي صیب چې خپل کړي دي.

نو ویلی شو چې په پښتو کې د هندي سبک په کلاسیک کې لوی پیرو شیدا او معاصره شاعرۍ کې یې لوی پیرو استاد پسرلی دی.

شیدا خو د هند په خاوره کې ژوند کاوه او هماغه وخت دا سبک غوړیدلو،خو پسرلي صیب په پښتنه خاوره ټول تاریخي پس منظر،شعري ټکنیک او ټول نزاکتونه مطالعه کړي او ترې متاثر دی .

طارق وزیر :دا ځانګړنې له پښتو او فارسي ورهاخوا د نورو ژبو خاصتاً انګریزي شاعرۍ کې هم شته؟

حنیف خلیل :په انګریزي شاعرۍ کې نۀ شته، وجه داده چې دغه سبک خصوصاً د غزل لپاره دی او انګریزي کې غزل نۀ شته.

په انګریزي کې نظم لیکل کیږي او په غربي شاعرۍ کې د شرقي شاعري غوندې فني تکنیک نۀ شته، نۀ یوازې انګلیسي بلکې فرېنچ،جرمن او نۀ نورو کې دا تکنیک شته ځکه هغوی سره غزل نۀ شته.

په انګریزي شاعرۍ کښې تمرکز په مضمون او مانا دی که څۀ هم د انګریزي د مزاج مطابق تکنیک لري خو له شرقي شاعرۍ بلکل بدل دی .

نور انګریزي کې نازخیالي نۀ شته او کاملاً بدله ده .

طارق وزیر :د یو سبک پیروي او شاعر په سبک پورې تړل کیدل ددۀ مقام ته زیان نۀ رسوي؟ ځکه دلته یې ممکن نوښت تر پوښتنې لاندې راشي .

حنیف خلیل :دا خبره دې سمه ده، خو ما په ړومبو خبرو کې وویل چې سبک بېل او مکتب بېل څیز دی،سبک ځانګړی او مکتب اجتماعي وي.

که چېرې یو شاعر فقط د یو بل شاعر پیروي کوي نو خپل شناخت یې ختمیږي او فن ته یې تاوان رسیږي.

خو که شاعر د یو مکتب پیروي کوي چې مکتب یو اجتماعي رجحان دی،نو هغه په شخص پورې نۀ وي تړلی؛ په همغه مکتب کې نوښت کوي نوي استعارې،نوي ترکیبونه ....پیدا کوي.

نو شاعر باید په مکتب کې دننه هم ځانګړی وي، که څۀ هم باریکۍ او فني نزاکتونه هماغه وي خو سمبولونه،ترکیبونه،استعارې،صنعتونه،تشبیهات ...یې خپل او جدید وي.

نو لنډه دا چې د شخصي سبک پیروي زیان لري خو د مکتب پیروي هم شناخت ورکوي او هم شاعر خپل فني نزاکتونه برقرار ساتلی شي .

طارق وزیر :د یو سبک پیروي اسانه ده خو خپل سبک او خپله لار پیدا کول سخت دي، نو فکر نۀ کوئ چې ښۀ شاعر ځانګړی او بېل رنګ لري؟

حنیف خلیل :د یو شخص د سبک پیروي اسانه ده او کوم لوی کار نۀ دی، خپله لار پیدا کول ګران او مشکل تماميږي.

د یو مکتب پیروي کومه بده خبره نۀ ده خو مکتب کې دننه خپله ځانګړتیاد خپل فن او تکنیک په بنیاد قایمه ساتل ضروري دي؛ په داسې حال کې به یو شاعر ته د مکتب پیرو وایو خو د سبک پیرو یې نۀ بولو؛ ځکه د سبک پیروي د یو شخص کیږي خو د مکتب اطاعت د یو پوره فکر او اندازِ بیان کیږي.

نو د سبک پیروي یعنې د یو شخص پیروي نقصاني او د مکتب پیروي مشکل نۀ لري .

طارق وزیر:مضمون افریني څهٔ ته وايي؟او د هندي مکتب د شاعرانو لپاره څومره مهمه ده؟

حنیف خلیل :کله چې له لفظونو ډېرې ماناوې اخلو دا مانا افریني ده او دا د دې سبک د شاعرانو کار دی.

کله چې په یو شعر کې داسې خیال راوړو چې د یو مضمون سربېره ضمناً بل مضمون هم بیان کړي،یا تر دې ډېر بیان کړي، نو دې ته مضمون افریني وایو.

کمال یې دادی چې داسې کلیمې پکې راوړل کیږي چې مضمون هم بدل کړي او ماناوې ډېرې کړي؛ دا د هندي مکتب د شاعرانو یو فني نزاکت دی.

د کاظم خان شیدا  بیتونه درته وایم.

رنګیني یې د اشعار تر حنا زېب کا

د شیدا دیوان په لاس واخلئ خوبانو

اوس مضمون دادی چې خوبانو ته دا ویل غواړي چې تاسې لاسونه د نکریزو پر ځای د شیدا پر دیوان رنګین کړئ ځکه د شیدا دیوان تر حنا رنګین دی، دا یو مضمون شو.

بل مضمون چې اصلي یې هم بللی شو دادی چې تاسې د لاسونو رنګیني غواړئ خو د ذهنونو رنګیني مو نهٔ خوښیږي، د لاسونو له رنګینۍ د ذهن رنګیني مهم ده او ذهنونه د شیدا د دیوان په را اخیستلو رنګینولی شئ.

یو بل بیت درته وایم:

د اسمان په شانې تېز د فتنو تېغ کا

صبح و شام ګرځي ښکاره په سرو منګولو

دلته شاعر دا ویل غواړي چې محبوب یې په سرو ښکلو منګولو او ناز او ادا داسې خلک قتلوي لکه څوک چې په توره قتل کوي او په تیرهٔ توره اسمان هم فتنې کوي-

اوس مضمون افرینی ته سوچ وکړئ !منګلولې رانغاړل د جنګ او وژنې نښه ده،منګولې د تورې په شان اوږدې وي،کله چې منګولې په نکریزو سرې شوې وي نو دا مانا هم ورکوي چې توره په وینو سره ده .نو دا چې د ښکاره ګرځیدلو خبره کوي خبره د ښکاره قتل ده او محبوب هم ښکاره ګرځي.

بل مضمون دادی چې صبح و شام تورې یې یادې کړي او اسمان هم ذکر شوی، نو سهر او ماښام په اسمان یو ډول منظر وي.

سهر چې لمر له غر نه څیره وهي،نو اول راتاو شان لکیره راښکاره شي،چې د تورې غوندې تیره کرښه ښکاري او دغه وخت رڼا او شغلې هم سرې وي .مضمون دادی چې لمر د تورې غوندې کرښه ده،نو چې سره کرښه ده قتل هم توره سره کوي.

کله چې لمر ولویږي یوه نری سره لکي پاتې شي،نو دا بیا د یوې سرې شوې تورې شکل پېش کوي، نو دا منظر سهر او ماښام وي ځکه شیدا ویلي چې صبح و شام ګرځي ښکاره په سرو منګولو

اسمان ځکه ورسره یادوي چې سهر او ماښام پکې د سرې تورې شکل جوړیږي او محبوب صبح و شام لېچې رانغاړي او قتلونه پرې کوي.

اوس غور وکړئ چې په یو بیت کې څومره مضمونونه راجمع شوي او لفظونه مختلفې ماناوې ورکوي .مثلاً د لمر سرې کرښې ته توره ویل،لېچو ته توره ویل،بربنډې لېچې له تیکې د راویستې تورې سره تشبیه کول،د سهر او ماښام د منظر ورسره بیانول دا هغه مضامین دي چې په دوو مسرو کې شیدا بیان کړي او دا مضمون افریني ده او له لفظونو جدا جدا ماناوې را ایستل مانا افریني ده.

نو مضمون او مانا افرینی د هندي سبک شاعرانو په لویه پیمانه د خپل شعر د ښایست لپاره راوړي دي.

# دژاوو

ایا کله مو د یو نوي ځای د لیدو پر وخت داسې احساس کړی چې دې ځای ته مخکې هم راغلي وئ؟ یا یو نوی کس مو اشنا احساس کړی؟ په داسې حال کې چې باوري هم وئ چې دا تجربه نوي ده.

کله کله همداسې احساس انسان ته پیدا کیږي.

دا چې دا احساس څۀ دی؟ ولې پیدا کیږي؟ ګټه او زیان یې څۀ دي؟حللاره څۀ دی؟ د دې پوښتنو د ځواب سرببره یې درته په نورو اړخونو هم بحث لرو.

په دې اړه مې د هېواد وتلی ارواپوه استاد شرف الدین عظیمي پوښتلی.

طارق وزیر :دژاوو فرانسوي کلیمه ده چې په فارسي کې په) اشنا پنداری (ژباړل شوي، ستاسې په نظر پښتو کې یې بدیله کلیمه کومه ده؟

استاد عظیمي :دژاوو یوه فرانسوي کلیمه ده، دا به ډېره سخته وي چې زۀ په پښتو کې ورته یو ویی یا لغت وټاکم چې د دژاوو اصلي مانا وښیي .دژاوو اصلاً دا مانا ورکوي چې تاسو یو حالت داسې تصور کوئ چې له وړاندې مو لیدلی . خدای دې وکړي چې اشتباه نۀ وم، موږ یې په) اشنا ګومان، له مخکې لیدلی شوی حالت او اشنا انګېرنه (ژباړلی شو . دغه حالت چې موږ یې تشریح کوو، هیله ده ژبپوهان ورته یوه مناسبه کلیمه وټاکي یا که تیاره موجوده وي نو شریکه دې یې کړي .دا داسې یو حالت دی چې یو کس یو څۀویني او فکر کوي چې وړاندې یې هم دا حالت لیدلی .

طارق وزیر :چون یو انساني حس دی او ډېری انسانان یې لري،نو فکر کوم له لومړنیو تر ننه په ټولو انسانانو کې به موجود وي، خو لومړنی کس څوک ۋ چې په دژاوو یا اشناپنداری یې خبرې وکړې؟

استاد عظیمي :د ارواپوهنې،فلسفې او ادبیاتو تاریخ ته په کتو لومړنی شخص چې د دژاوو کلیمه یې وکاروله، هغه فرانسوي فیلسوف او اروپوه )امېل بویراک (ؤ، چې په خپل کتاب کې یې راوړي ده .د نوولسمې پېړۍ په اواخرو کې دۀ د) رواني علومو اینده (کتاب کې استعمال او په علمي ډول مطرح کړه.

طارق وزیر :کوم حس ته دژاوو وایو یا څنګه یې پېژندلی شو؟

استاد عظیمي :دژاوو یو رواني حالت دی ،داسې حالت چې په دې کې فرد احساس کوي، چې د اوس یوه پېښه یا تجربه یې وړاندې هم لرلې ده،حتی که مطمین هم واوسي چې دغه تجربه نوې ده، خو په لنډ مهال کې یو عجیب او ګیچ کوونکی حس ورته پیدا کیږي.

ځینې نظریې دا وایي چې دا په مغز او حافظه کې له وړاندې نه یو ډول پوهه او اګاهي ده،مخکې له دې چې انسان یې تجربه او حس کړي .

نظریه دا مانا چې تر اوسه علم نۀ وي تایید کړي .

طارق وزیر :دژاوو څو ډولونه لري او کوم ډول یې خطرناک دی؟

استاد عظیمي :لکه ما چې یادونه وکړه چې د دژاوو په اړه مختلف نظریات موجود دي او بېلابېل ډولونه لري؛ خو مهم ډولونه یې چې اروپوهان پرې سلا او هم نظره دي، ۲ دي.

یو بېګانه او بل حقیقي دژاوو دی .

په بېګانه دژاوو کې فرد داسې احساسوي، چې ددۀ ترسره کړې تجربه ماورایي ده، یعنې له ځمکې ورهاخوا ده او بل چېرته یې تجربه کړې ده، چې اوس یې دی دلته بیا تجربه کوي؛ مثلاً :هنداون باور لري چې موږ اول ځل دونیا ته راغلي وو او اوس یې بیا تکراوو .دغه دژاوو تر ډېره د فرهنګي اعتقاداتو او د رسنیو د تاثیر په وجه راپیدا کیږي، چې خطرناک نۀ دی .

دویم ډول حقیقي دژاوو دی چې فرد احساس کوي،پخوا یې یوه تجربه کړې ده او دغه تجربه اوس بیا تکراروي، چې دغه تجربه د حافظې او رواني ستونزو یو اړخ لري، چې  خطرناکه دی.

حقیقي دژاوو د وسواس،د حافظې او رواني اختلالونو، اضطراب،ستړیا او ورته مسایلو په ترڅ کې رامنځته کیږي.

که په افراطي شکل وي نو باید له ارواپوه سره مشوره پرې وشي؛ خو که کله،کله پیدا کیږي نو دا حالت نورمال دی او د اندېښنې وړ نهٔ دی.

طارق وزیر :په دې اړه د پخوانیو او اوسنیو پوهانو په نظریاتو کې څومره تغیر راغلی دی؟

استاد عظیمي :د علم په پرمختګ او د ارواپوهنیزو بحثونو په ډېربښت سره د دژاوو په اړه هم په نظریاتو کې تغیر راغلی دی او کلیدي مرحلې ته رسیدلي دي.

امېل بویراک د یوې اروایي پدیدې په حیث توصیف کړه او دهٔ ضعیفه او هېرې شوي خاطرې ته ورته وبلله.

په شلمه پیړۍ کې زېګموند فروید د خاطرو او تجربو سرکوب وبالهٔ،د هغو خاطرو او تجربو ډول یې یاد کړ، چې تپل شوي او ځپل شوي وي .فروید په دې عقیدې ؤ، چې کله بېرته د فرد هیلې او وېرې سر راپورته کړي، نو په دژاوو بدلیدلی شي .

یونګ هم متصل له فروید سره په دې باور ؤ چې دا یو لاشعوري او جمعي لاشعوري مفهوم دی، دهٔ فکر کاوه چې ممکن دژاوو زموږ او زموږ د نیکونو مشترکه تجربه وي، چې دا تجربه له پخوانو موږ ته لېږدېدلي ده.

خو د فروید او یونګ له نظریو سره پیوست په شلمه پیړۍ کې چې کله د مغز اړوند عملي تجربې،نظریات او تحقیقات ترسره شول، نو اړونده نظریاتو کې هم نویوالی راغی او دژاوو یې د حافظې او مغز د جوړښت یوه برخه وبلله .

ځینو نورو ارواپوهانو دا د خاطرو او پخوانیو تجربو پردازش یا بیا پنځیدل یاد کړل.

د شلمې پیړۍ له اخرو نیولي تر اوسه پورې مدرنه علوم او frmi او aeg څېړنې چې په اعصابو ترسره شوي، وایي چې دژاوو ممکن د حافظې یو سیستم وي یا په مغز کې اشتباه پنځونې او سپړنې وي.

ځينې نوي تحقيقات يې حتی ميرګيو) ايپليپسي (ته ورته يو شی ګڼي .

خو که د دژاوو پسمنظر يا شاليد وڅيړل شي نو په کلي ډول ويلی شم، چې دژاوو له ذهني تفسيرونو څخه ورو، ورو اعصابو او د حافظې علم ته ورننوتی بحث دی.

که څۀ هم يو پټه پديده ده او په اړه يې پوښتنې هم ډېرې دي، خو زۀ په دې باور يم چې نوي تحقيقات به بلاخره وکولی شي، چې دقيق ووايي چې دژاوو څۀ دی .

طارق وزير :پر الزايمر اخته کسانو ته هغه پېښې هم ياد ته نۀ ورځي، چې نږدې وخت کې رامنځته شوي، نو ايا دژاوو خو به د الزايمر نښه نۀ وي؟

استاد عظيمي :دژاوو او الزايمر نږدې اړيکه لري، چې دواړه د حافظې او مغز د کړنو څخه رامنځته شوي موارد دي؛ خو ترمنځ يې اړيکه پيچلي ده چې څو موارد يادوم :

لومړی د دوی شباهت او ورته والی دی، دواړه په حافظې پورې اړه لري .دژاوو يو احساس دی چې فرد يو شی اشنا احساسوي، خو الزايمر يو ناروغي ده چې په جدي ډول د ذهن او حافظې پروسې ګډوډوي، خو دژاوو داسې نۀ ده.

بل د علت مسئله ده، دژاوو معمولاً د ناهماهنګيو موقتي او په مغز کې د درک او حافظې مسئله ده،

لنډ مهاله دی او مغز ته يې هېڅ زيان نۀ رسيږي؛ خو الزايمر د تغيراتو يو فزيکي او د اعصابو نيورولېکي مسئله ده او داسې ناروغي ده چې د اعصابو سلولونه تخريبوي، د عصبي سېګنالونو په انتقال کې ګډوډي پيدا کوي.

دژاوو په الزايمر کې هم يوه مسئله ده او ځينې څېړنې ښيي چې هغه خلک چې په الزايمر اخته دي، رقم،رقم دژاوو تجربه کوي، يعنې په حافظه کې لنډ مهاله ګډوډي منځته راوړي .مثلاً کېدای شي پر الزيمر اخته کس پخوانی او نوي خاطرې سره ګډوډې کړي او ممکن د دژاوو حس رامنځته کړي.

ځينې نورې څېړنې دا وايي، چې دژاوو ممکن د عقل د زوال لومړنی تجربې وي، کله چې ډېرې زياتې شي نو پر الزايمر بدليدلی شي.

خو نور تحقیقات بیا وایي چې دژاوو پر الزایمر پورې هېڅ اړه نۀ لري، ځکه عادي او نورمال خلک هم ممکن دژاوو تجربه کړي.

نو ویلی شو چې دژاوو او الزیمر دواړه د حافظې مربوط مسایل دي، علتونه او شدت یې فرق لري او له یو فرد بل ته توپیر کوي .

طارق وزیر :الزایمر عموماً په لوی عمر کې پېښیږي؛ د ځیړنو له مخې د دژاوو لپاره هم کوم عمر ذکر شوی چې په هغه کې یې د راپیدا کیدو امکان ډېر وي؟

استاد عظیمي :ډېره ښه او مهمه پوښتنه ده، دژاوو معمولاً په خاصو سنونو کې رامنځته کیږي؛ زۀ له تاسې سره موافق یم چې الزایمر په لوی عمر له ۶۰ کلنۍ وروسته پېښیږي، خو برعکس د ځیړنو له مخې دژاوو په ځوانۍ کې پیدا کیږي، چې معمولاً ۷۰ سلنه خلک یې په نورمال او عادي شکل تجربه کوي .له ۱۵ کلنۍ تر ۲۵ کلنۍ پورې عمر کې دا حس ډېر وي،ځکه دا د تغیراتو دوره ده او د افرادو د سټرېس کچه زیاته وي چې دژاوو سره کومک کوي.

د سن له زیاتیدو سره دژاوو کمیږي نو ځکه یې عمر خوړلي کسان کم تجربه کوي، خو کاملاً له منځه نۀ ځي .

طارق وزیر :د دژاوو یا اشنا پنداری احساس د حافظې اختلال بللی شو؟

استاد عظیمي :نه دا سمه نۀ ده، د داژوو احساس په خپلواک ډول یوه ناروغي نۀ شو بللی؛ دا پدیده یوه معمول او لنډمهالي تجربه او احساس دی، یوه ناسمه اشنایي ده،د یوې پېښې اړوند موقتي توصیف دی، چې ډېر خلک یې تجربه کوي.

دژاوو خپله خطر نۀ لري او غیر طبیعي هم نۀ دی، ممکن چې له ځینو ناروغیو سره ارتباط ولري،مثلاً :له میرگي سره،د حافظې له اختلال سره،له سټرېس او سټرِیا سره، له ورځنیو تجربو سره.

نو دژاوو بې ضرره تجربه ده خو که مکرر ډول دوام وکړي، د تشنج او حافظې ستونزه ورسره مل وي، یا بله ضمیمه یي ناروغي هم وي، نو بیا ممکن دژاوو یوه ناروغي وي، چې اخته کس باید د اعصابو ډاکټر ته مراجعه وکړي .

طارق وزیر :که دا حس ولرو نو ویلی شو چې ستونزه د انسان په مغز کې ده او بل له مغز سره څۀ اړیکه لري؟

استاد عظیمي :دژاوو یوه عصبي یا مغزي ستونزه هم نۀ ده، یوه ادراکي او ذهني تجربه او احساس يې بللی شو، چې د مغز او حافظې ځینې چارې پکې داخلې دي، خو ناروغي نۀ ده.

اخته کس ته ضرر نۀ لري لنډمهالی حس دی چې ژر ختمیږي، نو د مغز له اختلال سره اړیکه نۀ لري.

طارق وزیر :دژاوو میتافزیکي منشاء لري؟

استاد عظیمي :تر اوسه پورې خو د دژاوو د ماورایي او میتافزیکي منشاء په اړه کوم خاص علمي او قطعي مورد نۀ شته.

په علم کې د ماورا او د ماورا د جرړو په اړه څۀ نۀ دي راغلي او خاصتاً د دژاوو د مراوایي منشاء اړوند څۀ نۀ دي ویل شوي، خو که اړه ولري نو حد اقل په علم کې څۀ نۀ شته.

ځینې نظریات او فرضیې وجود لري چې وايي، دژاوو ماورایي منشاء لري.

خو له علمي اړخه دا یوه مغزي پروسه ده،  په تجربو پورې تړلې، رواني عوامل لري، په فرهنګ او کلتور کې ریښه لري؛ په ټوله کې یوه پیچلې پدیده ده چې علم يې د ماورایي اړخ په اړه بحث نۀ دی کړی .

طارق وزیر :کوم مهم علتونه دي چې د دغه حس د راپیدا کیدو امکان ډېروي؟

استاد عظیمي :مشخص عامل يې نۀ دی موندل شوی، خو ویلی شو چې د واقعي حافظې یعنې څۀ چې مو ذهن کې له وړاندې شته، د داژوو لامل ګرځي.

مجازي واقعیتونه لکه:فلمونه، کتابونه،خواله رسنۍ، په غیر مستقیم ډول معلومات پیدا کول )حافظه کې یو څۀ ذخیره کوو او بیا يې بل چېرته تجربه کوو (، فرهنګي پوهه او سواد هم د دژاوو سبب کیدلی شي.

بل یې رواني اړخ دی چې سترېا، ستړېس، اضطراب او نورې اروايي ګډوډۍ هم ممکن د دژاوو احساس راپيدا کړي.

هغه خلک چې ډېر سفرونه کوي، له سترېا ډک ژوند لري، په ژوند کې یې اساسي او لوی بدلونونه راځي، ممکن ډېر ځله دژاوو تجربه کړي.

څېړنې ښيي چې د مغز ناتواني یې بل لامل دی، چې کله حافظه ونۀ کړای شي، چې خاطرې په سم ډول رابرسېره کړي، نو دژاوو پېښيږي .

طارق وزير :که په مسلسل او مکرر ډول یو فرد دژاوو ولري، نو کوم زيانونه ورته رسولی شي؟

استاد عظيمي :هغه افراد چې په متواتر ډول د دژاوو له احساس سره مخ کيږي، ممکن ځينې ستونزې پيدا کړي . لکه :د اضطراب ډېريدل،د انزايټي زياتوالی،د ستړېس شدت، په ورځينو چارو کې تمرکز بايلل،د ذهني ستونزو پيدا کيدل،د ارادې کمزوري، د بېګانګۍ حس لرل .

طارق وزير :یو اخته کس څنګه له دژاوو یا اشنا انګېرنې ځان خلاصولی شي یا حل لاره څۀ ده؟

استاد عظيمي :ډېره ښه پوښتنه مو مطرح کړه او فکر کوم دا به د ډېرو دوستانو پوښتنه وي، چې که په متواتر او مکرر ډول یو څوک دژاوو احساسوي، څۀ وکړي.

غواړم څو موارد پېشنهاد کړم :

اول :که احياناً دغه احساس ډېر شو،نو بيا بايد اخته کس له ارواپوه سره ستونزه شريکه او حل کړي، ځکه په شديد حالت کې مسلکي مديريت ته اړتيا لري.

دوهم :بايد ځينې تمرينونه ترسره کړي، چې دا کولی شي دژاوو کم کړي لکه :د تمرکز تمرين،د ستړېس او اضطراب د کمښت تمرين.

دريم :د ستړېس مديريت دی، لکه ژوره ساه ويستل، ميډېټيشن،یوګا،ورزش هم دژاوو کمولی شي.

څلورم :د ژوند د سټايل او موقعيت بدلون هم کولی شي، دژاوو لږ کړي.

پنځم :باید کوشش وکړي چې د دژاوو علت او لامل پیدا کړي او له منځه یې یوسي .مثلاً :د نشه توکو او الکولو پرېښودل، کافي خوب کول، ښهٔ خوارهٔ خوړل.

شپږم:موږ باید په واقعیتونو تمرکز وکړو، هغه تجربې چې نهٔ شته باید جدي یې ونهٔ ګڼو.

اووم :ورځنیو خوندورو پروګرامونه لکه :تفریح،بنداړونه، میلې هم مهمې دي.

اتم :د اروایي روغتیا اهمیت د یادولو دی، باید خپله مطالعه وکړو او د ارواپوهنې لارښوونې زده کړو، چې له ځان سره خپله کومک وکړو؛ نو منفي افکار ختمول، خپل اعتقادات باید علمي او جدي ونهٔ ګڼو بلکې دا خپلې شخصي تجربې دي .

خو دا ستونزه بیا هم له یو فرد بل ته فرق کوي، نو ممکن ځینو ته نتیجه ورنهٔ کړي، نو بیا باید ارواپوه ته مراجعه وکړي.

# ګازلايټينګ

داسې تکنيکونه هم شته چې په وسيله يې يو کس يا ډله د بل کس يا ډلې ټول کنترول په لاس کې اخلي او ځان ته يې تابع کوي؛ که دی تيارۀ رڼا وبولي نو قرباني کس يې هم په پټو سترګو مني، ځکه اروايي وضعيت يې د بل چا پۀ کنټرول کې دی.

په دې اړه مې پښتو کې خاص او تفصيلي څۀ نۀ دي لوستي، خو ددې لپاره چې پښتانۀ محصلين او عام لوستونکي يې په اړه مالومات ترلاسه کړي، چې دا چاره څۀ ده؟ کله او چا يې په اړه اول بحث کړی؟ علتونه، مخنيوی او ورته مواردو په اړه مو له پوهنمل استاد شرف الدين عظيمي سره مرکه کړې.

طارق وزير :پښتو کې د gaslighting معادله کليمه کومه کېدای شي، چې همدا مانا ورکړي؟

استاد عظيمي :په پښتو کې د ګازلايټېنګ معادله کليمه )ذهني تېری يا ذهني فرېب (دی، ځکه اصطلاحاً دا هغه عمل دی چې فرد ته فرېب پکې ورکول کيږي يا يې په ذهن کې لاسوهنه کيږي .

طارق وزير :د دې کليمې د شاليد په اړه راته ووایاست، چې کله او څنګه رامنځته شوه؟

استاد عظيمي :د ګازلايټېنګ لغت د ګازلايټ په نوم له يوې نمايشنامې)تمثيلي ټوټې (څخه اخيستل شوی، چې پاتريک هملتون په1938 م کې ليکلې وه او بريتانيا کې يو فلم هم ورڅخه جوړ شو.

بيا په 1944 م کال کې د ګازلايټ په نوم يو امريکايي فلم هم وړاندې شو.

داستان یې داسې ؤ چې یو مېړه غوښتل، خپله روغه او جوړه مېرمن لیونۍ ثابته کړي.

دۀ به همیشه خپلې میرمنې ته د لیونۍ خطاب کاوۀ، دۀ به د کور د څراغ رڼا ډېره یا کمه کړه او پړه به یې په مېرمنې اچوله، چې دا تېروتنه له دي څخه شوي ده، بلاخره یې ښځه پر خپل اروایي حالت شکمنه کړه، څکه په درک او حافظه کې یې لاسوهنه وشوه او د بل چا تر کنټرول لاندې راغی.

دا اصطلاح موډ شوه او ورو، ورو علم، ادب، ژبپوهنې، فرهنگ او ارواپوهنې ته ورننوته، چې اوسنۍ ارواپوهنه هر ډول ذهني او عاطفي لاسوهنه گازلایټېنگ بولي .

طارق وزیر :د ذهني فرېب تعریف څۀ دی او څنگه یې پېژندلای شو؟

استاد عظیمي :گازلایټېنگ داسې تعریفولای شو، چې په دې کې یو کس یا ډله د نورو کسانو او ډلو په ادراکونو کې لاسوهنه وکړي او هغوی پر خپل درک شکمن کړي.

یا هغه پروسه ده چې یو کس هڅه کوي، چې بل کس ته ذهني سرخوږی پیدا کړي او له ریښتیاوو یې لرې یوسي، دی قانع کړي چې ددۀ خبرې ناسمې دي او خپل نظر پرې تحمیل او ومني .

طارق وزیر :که د گازلایټبنگ پۀ اړه ونۀ پوهېږو، نو څومره او څنگه زیانونه را اړوي؟

استاد عظیمي :دا یوه مهمه پوښتنه ده،څکه په دې مرکه کې باید د گازلایټېنگ په زیانونو پوه شو.

لومړی :فرد په پرلپسې ډول پر خپلو ادراکاتو، احساساتو او تحلیل شک کوي او پر ځان باور یې له منځه ځي.

دویم :فرد مضطرب او اندېښمن کوي.

درېیم :ښایي قرباني پر ځان د باور د ختمېدنې او وېرې زیاتېدو له امله وابسته شي او ناوړه استفاده ترې وشي.

زموږ ځینې ډېری مشران دا کار کوي، دوی تر ډېرځله ښځې او ماشومان گواښي، او دوی پر خپل جرئت او وړتیا باندې شکمن کوي.

څلورم :په ګازلایټېنګ کې ښايي ژور خپګان، اضطراب او ځینې نورې ارواييي ګډوډۍ هم راپيدا شي.

پينځم :پرلپسې قرباني شوی کس له ټولنې واټن اخلي او ګوښه والي ته ځي، چې پهٔ دې سره لهٔ دهٔ نه د ناوړه ګټنې شونتیا ډېرېږي او ددهٔ په اړه د پرېکړې واک هم د نورو لاس ته ورځي.

شپږم :قرباني ته په ټولنيزو اړیکو کې هم ستونزې پیدا کیږي.

اووم :قرباني د پرېکړې کولو واک بایلي، ځکه دی، پر خپلې وړتیا شکمن دی.

اتم :ژوند يې پیکه کیږي او خوند نشي ورڅخه اخیستلای.

نهم :کله چې قرباني د ګازلایټېنګ په اړه ونهٔ پوهيږي، نو ناوړه ګټه اخیستنه ډېرېږي او دوام کوي.

لسم :قرباني د خپل هويت احساس بایلي او نهٔ شي کولای ځان سم وپېژني.

نو د خپل ارواييي امنیت د ساتلو په لپاره باید پهٔ دې اړه پوه شو .

طارق وزير :هغه کس ناروغ بللای شو چې له دې تګلارې کار اخلي؟

استاد عظیمي :اړينه نهٔ ده چې ګازلایټر دې حتمن ارواييي ګډوډي ولري، خو ځيني کسان چې نورې ارواييي ګډوډۍ ولري، ښايي دې چارې ته هم مخه کړي.

په نارسیسېزم اخته کس چې ځان له نورو لوړ او ځواکمن ګڼي، ښايي دا کار وکړي.

لهٔ بلې خوا د ټولنې ضد شخیصتونه هم خلکو ته، د ګناه له احساسه پرته، دوکه او فرېب ورکوي.

درېيم د بارډر لاین ګډوډي ده چې قربانيان يې وابسته وي او د یوازیتوب له ډاره داسې چارو ته مخه کوي، ترڅو خلک ورسره پاتې شي.

نو موخې بېلابېلې دي لکه :ځواک لرل، کنترول لرل، واکمن کیدل ...

طارق وزیر :څهٔ وکړو تر څو مو څوک مو ګازلایټ نهٔ کړي، یعنې د مخنیوي لارې یې کومې دي؟

استاد عظیمي :له ګازلایټینګ څخه د بچ کېدو لپاره څو لارښوونې کوم :

۱ :د ګازلایټېنګ په اړه مطالعه وکړئ، ګازلایټر تاسې په شک کې اچوي او واقعیتونه دروغ درته ښیي، نو کله چې تاسې د هغوی په چلونو پوه شوئ، بچ کېدای شئ؛ بل ځان وپېژنئ له نورو مشوره واخلئ او دا ثابته کړئ چې پهٔ ریښتیا مو حافظه او ادراک مشکل نهٔ لري.

۲ :پر ځان باور اړین دی، پر خپله حافظه او ادرکاتو باور ډېر کړئ؛ تاسې کولای شئ ځینې شیان ثبت او ولیکئ، چې بل وخت څوک پرونۍ خبره درته بدله نکړي .یو مثال وایم :یو چا درسره د ۲۰۰۰ افغانیو وعده کړي خو سبا وايي چې ما د ۱۰۰۰ وعده کړې وه، که تاسې یاداشت وي، نو د فرېب مخه نیول کیږي .خپل یادښتونه بل چا سره شریک کړئ او د هغهٔ نظر واخلئ، چې پهٔ ریښتیا غلط او ملامت يئ کنه.

۳ :ملاتړ ته اړتیا لرئ، لومړی د ملګرو ملاتړ مهم دی، خو که ستونزه حل نهٔ شوه نو بیا باید یو مسلکي او حرفه يي شخص ته مراجعه وکړئ، چې هغه ارواپوه دی؛ ارواپوه تاسې ته وايي چې ګازلایټ يئ او کنه، که وئ نو څهٔ باید وکړئ.

۴ :خپلې پولې وټاکئ، خلکو ته یې وروپېژنئ او چاته هم اجازه مه ورکوئ چې د حریم کرښه کراس کړي.

۵ :پر خپل ځان تمرکز وکړئ، له هر چا سره چې اړیکه لرئ، ځان مه هېروئ او ناسالمې اړیکې ترک او پرېږدئ، زیانمن روابط ختم کړئ؛ دوامداره ورزش، یوګا، د سټرسونو کمښت او میډیټیشن ډېر کمک کولای شي.

٦ :د قانون حاکمیت مهم دی چې مخنیوی یې کولای شي.

۷ :ماشوم ته باید د سالمو اړیکو مهارتونه ور زده شي .

طارق وزیر :یو ګازلایټ شوی کس څنګه پېژندلای شو، نښې یې کومې دي او کوم بدلونونه پکې راځي؟

استاد عظیمي :دا ښه مسئله ده او مهمه پوښتنه مو مطرح کړه؛ د خپل کار په څو کلنه تجربه کې ما ډېر هلکان او نجونې مراجعین لرل، چې په اړیکو کې ګازلایټ شوي وو.

دا چې د دوی پر ځان باور ختم وي نو له هر چا ډېره ښښنه غواړي؛ ماته چې راشي نو بار بار ښښنه غواړي او مننه کوي چې ما وخت ورکړ، پۀ داسې حال کې چې دا زما دنده ده او زۀ باید وخت ورکړم .د دوی ډېره برخه یې نجونې وي.

بل د بې ارزښتۍ احساس دی چې دوی سره مل وي؛ په دې مانا چې ځینې کسان ښکلي وي، باسواده او باسلیقه وي، پیسې او ښۀ ژوند لري، قوي وي؛ خو مقابل لوري داسې احساس ورکړی وي، چې دوی خورا بدرنګ، بې سواده او بې سلیقې،غریب،کمزوري،ناروغ او خراب ژوند لرونکي دي او دا د بې ارزښتۍ احساس تر ډېره له کورنۍ ورکول کیږي چې خپل ماشوم ته په کم نظر ګوري.

اضطراب او سټرېس یې بله نښه ده، چې اخته کسانو ته یو کوچنی مشکل ډېر لوی ښکاري او ورڅخه ځوریږي.

د تړاو یا وابسته ګۍ مسئله هم باید یاده کړو، ځینې دومره وابسته شوي وي، چې د ګازلایټر له اجازې پرته اوبۀ هم نۀ شي څښلی، چېرې تللی نۀ شي، لباس یې د بل په خوښه وي؛ لوی زیان دادی چې ازادي ترې اخلي.

بیخي ګنګس او ناهیلي وي ځینو اخته مراجعینو ته یو یا دوه ساعته خبرې وکړم او پای کې راته وایي، چې زۀ څۀ وکړم؟ زما ټولې خبرې په همغه شبېه کې ترې هېرې وي.

عاطفي بې ثباتي رامنځته کوي، مثلاً ګازلایټ شوي یوه ورځ له یو چا سخت نفرت لري، خو بله ورځ همغه کس ورته ګران وي او پسې ژاړي.

د ژوند د هرې پېښې مسؤل ځان بولي او تل ځان ورته ملامت ښکاري.

له راتلونکي وېره لري چې هسې نه لیونی/لیونۍ نۀ شم.

ځینې نورې ستونزه لکه :بې خوبي، بې اشتهایي، د وزن بې ثباتي ...هم پیدا کوي.

اخري دا چې ځینې جسمي ګډوډۍ هم رامنځته کوي لکه :د معدې درد، د کولمو خرابي، سردردي، د هضم ستونزه.

هغه ارواپوهان چې د اړیکو په برخه کې کار کوي، د دې ښښو پېژندل ورته ګټور دي .

طارق وزیر :څنګه کولای شو، یو ګازلایټ شوی کس نورمال حالت ته راولو؟

استاد عظیمي :له ځینو لارو چارو ګټه اخیستلای شو:

۱ :کورنۍ او ملګري باید د قرباني خبرو ته غوږ ونیسي او تجربې یې تایید کړي.

۲ :د یوازیتوب احساس یې باید ورختم شي او پر ځان باور ورکړل شي.

۳:د ګازلایټېنګ په اړه پوهاوی مرسته کوي.

۴ :له یو ارواپوه باید مشوره واخلي، ځکه یو مسلکي لارښود ته اړتیا لري.

۵ :هغه چا چې ګازلایټ کړي یاست، فاصله ترې واخلئ، که دنده ورسره کوئ پرې یې ږدئ، ملګرتیا ترک کړئ، ځکه له تاسې ناوړه ګټه اخلي .

طارق وزیر :رسنۍ کولای شي چې مخاطبین ګازلایټ کړي او یوه موضوع برعکس وښیي، ددې لپاره له کومو تګلارو کار اخلي؟

استاد عظیمي :بلې !رسنۍ کولای شي چې واقعیت تحریف کړي، ابهام ایجاد کړي، شکونه پیدا کړي، له اصلي موضوع د خلکو پام غیر ضروري شیانو ته واړوي.

له ځینو ارواییي تکنیکونو هم ګټه اخلي، چې پواسطه یې کولای شي چې له غټو پېښو سره سرسري برخورد وکړي او حقیقتونه پټ کړي.

ځیني رسنۍ د یوې لویې قضیې ټولې خواوې پرېږدي، یوازې هغه څۀ را اخلي چې دوی ته ګټه لري؛ مثال :یو خبریال د رهنماوو له لسو مسؤلینو سره خبرې کوي، نهه کسان وایي چې ستونزه نۀ لرو او هر څۀ نورمال دي؛ خو یو کس د کورونو له قیمتۍ شکایتونه کوي؛ دلته ټول پرېږدي همدا د یو کس خبرې را اخلي او حلات خراب معرفي کوي.

د ځینو رسنیو ملاتړ له نورو ځایونو کیږي، چې د هغوی د ګټو د خوندیتوب لپاره موږ ګازلایټ کولای شي .

طارق وزیر :ګازلایټر له خپل عمله خوند اخلي؛ کله چې څوک د بل له ځور نه خوند اخلي موږ یې سادېست بولو، نو فکر کوم ګازلایټینګ او سادېزم به نږدې اړیکه لري؟

استاد عظیمي :دا ناروغه چاره د یو کس له اروایي حالت سره تړاو لري، چې ښایي ګازلایټر سادېست، نارسیست یا د ټولنې ضد شخصیت وي؛ چې په دې حالت کې لهٔ خپلو اړونده کړنو خوند اخلي.

په ټوله کې ګازلایټر خپل اهداف ترلاسه کوي، خپل عقاید او احساسات تحمیلوي، تسلط ترلاسه کوي نو طبعاً دا خوند لري .

پای

# په کیسه کې خیال او واقعیت

*کیسه د خیال او واقعیت ګډوله ده.*

ځینې لیکوالان چې کیسې لیکي، نو له خپلو خاطراتو استفاده کوي چې خیال هم ورګډوي؛ خو ځینې د خاطراتو د کیسه کولو پر ځای په خیال کې یې جوړول بهتر ګڼي.

ښاغلی ایمل پسرلی هم مشهور کیسه لیکوال دی چې ډېر داستاني اثار یې چاپ شوي.

له دهٔ سره په کیسه کې د خیال او واقعیت پر موضوع غږیدلی یم.

طارق وزیر :تاسې چې کیسه لیکئ نو پېښې مو خیالي وي کنه واقعي پېښو ته فقط خیال هم ورګډوئ؟

ایمل پسرلی :زما ډېرې لږې کیسې شاید داسې وي چې په پېښو راڅرخي .عموماً د څېرې یا کرېکټر کیسې لیکم . اصلاً د داستاني ژوند په تړاو زما نظر دا دی چې دا د واقعیتونو او خیال ګډوله ده .دا اوس اوس مې یوه کیسه وروسته له څو میاشتو ولیکله، په دې کیسه کې کرېکټر کاملاً خیالي و خو عجیبه دا ده چې د کیسې له بشپړولو وروسته مې کټ مټ هغسې څېره ولیده .شاید د ګڼو کسانو له څېرو مې په تصور کې یو کرېکټر و چې په کیسه کې راښکاره شو.

طارق وزیر :ځینې په دې نظر دي چې که واقعي پېښې کیسه کوو نو بیا خو ترې خاطره لیکل ښهٔ دي، ځکه واقعیت خو په خاطره ښه رسیږي؟

ایمل پسرلی :واقعي پېښې کیسه کېدای شي خو خپل هنر لري .دا هنر یې په منطق کې دی .د واقعي ژوند منطق او د داستاني ژوند منطق فرق کوي .په رښتیني ژوند کې یو څوک راته وایي یو سړی مې ولید چې له څلورم پوړه ولوېد، رګ روغ و، په دوو پښو رهي شو .خو که دغه رښتیانۍ پېښه په همدې بڼه کیسه کړو لوستونکی یې راسره نه مني .د

کیسې لوستونکی قناعت غواړي .په واقعي ژوند کې ښایي د دغې پېښې ویونکی موږ ښه پېژنو، دی په وار وار راته ثابت شوی چې د دروغو سړی نه دی، د باور وړ کس دی خو د داستان لوستونکی نه راوي پېژني او نه یې تر هغو مني چې په خپلو شواهدو یې قانع نه کړي .له ربښتینو پېښو څرنګه کیسه ولیکو، زما یوه مقاله وه، زه باوري یم چې له ربښتینو پېښو کیسه لیکل کېدای شي خو مالګه او مرچ یې یا رنګ او روغن یې باید داسې وي چې په داستاني منطق پوره وي.

طارق وزیر :په کیسه لیکلو کې خیال او واقعیت څومره مهم دي او د کوم یې تله باید درنه وي؟

ایمل پسرلی :مخکې مې هم وویل چې کیسه د خیال او واقعیت یوه ګډوله ده .ګومان کوم د کیسه لیکنې پر وخت لیکوال یا لیکواله د هغو پېښو، د هغو کرېکټرونو او د هغو شېبو ریسایکل شوې بڼه وړاندې کوي چې د کلونو په اوږدو کې یې لیدلي وي، په لاشعور کې یې خوندي وي .په ریسایکل یا بیا کارونه کې طبعاً نوی او زوړ سره ګډېږي .که په خپلې وروستۍ کیسې چې بدلون نومېږي وغږېږم، د پاپا په نامه کرېکټر یو کس نه و، د یونان د زکنتاس ټاپو په هغه څنډه کې چې ما یوه اوونۍ تېره کړې وه او څومره ځایي خلک مې لیدلي وو په هغو کې د څو کسانو ګډوله وه .که زه د یوه افغان کرېکټر پنځوم په ذهن کې مې د یوه افغان رنګ او روی، کړه وړه او عادتونه شته، شاید ځان اړ ونه بولم چې ربښتینی کس پسې وګورم .خو که د یوه پردي هېواد خبره کاږم هلته بیا اړ یم چې د هغه ځای خلکو ته په دقت وګورم، بیا به هم د یوه کس خبره کټ مټ راوانه خلم، هغه به د داستان د کرېکټر په عادتونو او د کیسې په موضوع پورې وي چې سړی باید ورسره څرنګه ښکاره شي.

طارق وزیر :واقعیتونه تراخهٔ دي نو انسان باید کله کله خیال ته مراجعه وکړي نو له واقعیتونو د تېښتې لپاره کیسه څنګه ګڼئ؟

ایمل پسرلی :له واقعیتونو ولې باید وتښتو؟ که ترخه دي که خواږه دي همدا ژوند دی .کیسه د ژوند کیسه کوي، په ژوند کې هر څه راځي، که یوه کیسه د ترخو واقعیتونو ښکلی انځور وړاندې کړي، لیکوال یا لیکوالې به یې لوی هنر پنځولی وي.

طارق وزیر :تاسې د نړۍ د نورو لیکوالو اثار هم لوستي د یو لوستونکي حیث بیا څۀ فکر کوئ چې واقعیت ته او که خیال ته نږدې کیسه خوندوره ده؟

ایمل پسرلی :کیسه د واقعي ژوند پېښې یا کاپي ده .بلکې کیسه د ګڼو واقعي پېښو، کرېکټرونو او صحنو ګډوله ده .د لیکوال یا لیکوالې خیال په خپله د واقعي ژوند له تجربو څرګوب شوی.

طارق وزیر :یعنې د کافکا مسخه ناول او که د همینګوې د بوډا او سیند ناول په څېر اثار؟

ایمل پسرلی :دلته خبره د خیال او واقعیت نه ده، د سمبولیکې ژبې او عادي ژبې خبره ده .کافکا که کوخۍ یادوي، که بل څه هغه سمبولونه دي، یعنې د ده خیال له واقعي ژونده څرګوب شوی خو په بله بڼه یې راته وایي .په مسخه کې اصلي کرېکټر د خپلې کورنۍ لپاره مساپر شویو کار کوي چې په حشرې بدل شي، دغه ناول په د انسان د یوازیتوب، له ټولنې د جلا کېدو انځور راکوي .د همېنګوې بوډا او سیند بیا د انسان د مقاومت او مېړانې تصویر راکوي .بوډا ظاهرآ ناکامه دی کب یې نه دی راوړی خو په زړه کې ډاډه دی چې خپل هدف ته رسېدلی، نو دا دواړه ناولونه تر ظاهري ماناو ورهاخوا خبرې لري، د وړاندې کېدو د بڼې له امله یې یو خیالي بل عادي راته ښکاري.

طارق وزیر :نوي کیسه لیکوال څنګه کولی شي چې د دواړو تر منځ تعادل وساتي او همدارنګه له خپلو تجربو استفاده ورسره څومره مرسته کولی شي؟

ایمل پسرلی :مهمه دا ده چې نوی لیکوال یا نوې لیکواله په کومه موضوع، په څه ډول کرېکټر یا پېښې کیسه لیکي . بیا وایم خیال له واقعیتونو، له تجربو، له لیدنو ، له اورېدنو څرګوبېږي .کاظم خان شیدا چې وایي:

د افتاب په کمند نه خېژم اسمان ته

نه ږدم بار لکه شبنم په دوش د ګلو

پرخه يې په گل ليدلې چې لمر شي ورکه شي، وچه شي، دا واقعيت دی، خيال يې دا دی چې دوی دغه پرخه د لمر د وړانگو په مرسته اسمان ته خېژوي .نو واقعيت دی چې خيال يې خړوب کړی .هغه کس ښه خيال لرلی شي چې واقعي ژوند ته ډېر ځير وي .شاوخوا سيمې، خلک، پېښې، خبرې، غږونه، بويونه، رنگونه په دقت ويني، لنډه دا چې ټول حواس کاروي .هر هنرمند که ښه هنر پنځوي بايد ژوند ته ځير واوسي.

طارق وزير :کله داسې شوي چې د يوې موضوع اړوند کيسه ليکل غواړئ نو په دې کشمکش کې لويدلي وئ چې خيالي يې جوړه کړم کنه خپله ورته تجربه تمثيل کړم؟

ايمل پسرلی :دا خبره پاس ډېره وشاربل شوه، بيا وايم کيسه د خيال او واقعيت گډوله ده، او خيال له واقعي ژونده خړوبېږي.

# ټپيزه

پر ټپيزو باندې لوی انتقاد د تسلسل نۀ لرل دي او ځينې فکر کوي چې له ټپيزې سره د ټپې د ايجاز يا لنډون کمال هم ختميږي.

دا او يو شمېر نور اړوندو مسايلو په اړه مې په دې مرکه کې ډاکټر حنيف حيران  پوښتلی .حيران صيب خپله هم له ډېر پخوا راهيسې ټپيزې ليکي.

طارق وزير :پيل به يې د ټپيزو له مثالونو راوکړو، څو ټپيزې چې تاسې ليکلي راته ووايئ!

په نس نهار پوزی دې نۀ وي

اورونه مړۀ لوگی دې نۀ وي

لنډه په دې يو شی دې نۀ وي

ستا د ښايست کمی دې نۀ وي

که د غنمو قحطي وي تېره به شينه

زړگی دې يوړو لاړې پېغلې

خولۀ کې مې نۀ شته لاړې پېغلې

لاړم د مرگ تر غاړې پېغلې

په دیوالۀ ولاړې پېغلې

ډوډۍ دې نۀ خورم د دیدن وږی دې یمه

د زړۀ په سر مې ازغی مات دی

نم مې د سترګو دومره زیات دی

یوه دجله بله فرات دی

حسن دې کم ظلم دې زیات دی

خلک د حسن مطابق ظلم کوینه

طارق وزیر :دا ټپیزې ستاسې وې او ټول پوهیږو چې لیکوال یې ډاکټر صیب حیران دی؛ نو ایا له ولسي ادبیاتو سره د لیکوال نوم ذکر کول پکار نۀ دي او که ذکر شي کوم تاوان خو به نۀ پېښوي؟

ډاکټرحنیف حیران :ټپیزې له ټپو راوتې؛ لکه څنګه چې یې له نوم ښکاري .اتلس شل کاله وړاندې چې موږ لیکلې نو مصره ییزې مو ورته ویلې خو بیا زیار صیب ویل چې ټپیزه له ټپې راوتې نو ځکه ټپیزه مناسب نوم دی.

نو پخوا به خلکو پخوانیو ټپو ته مصرې ورزیاتې کړې خو وروسته نظر دا شو، چې شاعر دې ټپه هم ورته خپله جوړه کړي .

نو له همدې وجې اوس خلک ټپیزې سره نوم لیکي او کتاب یې هم په مشخص نوم چاپیږي، ځکه جوړونکی یې معلوم دی؛ نو زۀ فکر کوم چې دا کوم عیب نۀ دی چې له ټپیزې سره د شاعر نوم ولیکل شي.

طارق وزیر :د ټپو کمال دادی چې یوه لویه خبره په نهایي اختصار سره بیانولی شي، خو که درې نورې مسرې ورزیاتې کړو؛ نو د لنډون دا کمال خو یې له منځه ولاړ، نو ولې د ټپیزې پر ځای ټپو ته دوام نۀ ورکوو؟

حنیف حیران :واقعاً ټپه په دوو نیم بیتیو کې ډېر څۀ په ځان کې ځایوي،چې موږ يې لنډکی نظم بللی شو.

خو ټپیزه هم ځینې ګټې لري؛ ځینې ټپې مبهمې او ګونګې دي نو ټپیزه کولی شي، چې هغه راوسپړي او داسې ډېرې ټپې شته چې خلک ورته له مختلفو لیدلورو ګوري نو واضح کول يې پکار دي.

ټپیزه د ټپې د پراخوالي لپاره بد ژانر نۀ دی، ځکه ټپیزه خپله له ټپې راوتي ده، نو د ټپې د لا سینګار او ساتلو لپاره بهترین صندوق کیدلی شي.

ټپې د ولس مال دی سینه په سینه انتقال شوي دي، اکثره ټپې په ورکیدو دي؛ کچېرې ټپیزه د یو فولادي صندوق او ټپه د یو قیمتي غمي په حیث فرض کړو، نو کولی شو چې ټپې د یو قیمتي غمي په حیث په ټپیزه کې وساتو او د ټپې ارزښت او جوړښت ته هم زیان نۀ رسیږي.

طارق وزیر :ټپه ډېر پخوانی تاریخ لري، تر اوسه يې د لویو مفاهمو د لنډون کمال ساتلی نو اوس ولې ضرورت شو چې نورې مسرې ورزیاتې شي؟

حنیف حیران :که چېرې ټپیزه د ټپې اصالت ته زیان رسوي، نو بیا پکار نۀ ده چې ټپییزه ولیکل شي.

لکه تاسې چې یادونه وکړه ټپه په سلګونو او زرګونو کاله تاریخ لري، نو زۀ وایم چې یوه ټپه چې زر کاله تاریخ لري که هر څومره وګړي يې د بدرنګولو، د ترکیب د خرابۍ او بې ارزښته کولو هڅه وکړي، دا کار هېڅکله نۀ شي کولی.

خو زۀ فکر نۀ کوم چې ټپیزه دې د ټپې د تاریخ او ارزښت ته زیانمنه وي.

ټپه په خپل ځان کې لنډکی نظم او ځانګړی شکل دی.

که څوک ښه ټپیزه لیکلی شي، راسپړلی شي او سم تسلسل ورکولی شي، نو د ټپیزې لیکل کوم بد کار نۀ دی، ښه ده چې لا يې ښایسته کړي او وغوړوي.

که څوک ورته خپله ټپه جوړولی شي لا ښه ده، ځکه ممکن دا د نوو او ښو ټپو د پیدا کولو ښه لاره وي او زۀ يې عیب نۀ ګڼم.

ځو کاله پخوا په افغان ادبي بهیر کې د استاد غضنفر صاحب په غوښتنه ما په ټپیزه یو لکچکر  درلود .په غونډه کې د شعر لوی استادان؛ لکه غضنفر صاحب، کاروان صاحب، نثار صاحب، عزیز تحریک او نور شاعران هم ناست وو .په ټپیزې هر اړخیز بحث وشو .استاد غضنفر وویل چې که شاعر هڅه وکړي د ټپیزې لپاره خپله ټپه هم جوړه کړي؛ دا به ډېره ښه شي؛ موږ به په راتلونکې کې ممکن نوې ښې ټپې هم پیدا کړو .ټپیزه شپېته اویا کاله عمر لري، دا چې هغه وخت خلکو ځنځیري لنډۍ او نور نومونه ورته اخیستل او اوسنی چوکاټ یې هم نه و .یا به له ټپې یوه نیم بیتي زیاته وه، یا پنځه او یا هم تر دې زیاتې .ډېرو سندرغاړو هم ویلې دي .دا هم مهمه نه ده چې ټپیزه لومړی چا ولیکله او دویم چا .مهمه یې ښه لیکل دي .استاد غضنفر وویل چې غزل له فارسي پښتو ته راغلی دی .لومړی غزل خنظله بادغیسي لیکلی دی؛ مگر ډېر کم خلک یې له نوم سره اشنا دي؛ ځکه چې ښه غزل یې نه دی لیکلی .چا چې ښه غزل لیکلی دی، هغه لوی لوی نومونه لري .البته د بادغیسي پر غزل دا احسان دی چې غزل یې وپنځاوه.

طارق وزیر :پر ټپیزو لوی انتقاد دادی چې مسرې یې تسلسل او همغږي نهٔ لري، حتی ځینو کې تضاد هم وي؛ نو دا یې عیب نهٔ بولئ؟

حنیف حیران :د ټپیزو زیات کتابونه چاپ شوي او پر ټپیزو لویه نیوکه همدا ده چې تسلسل نهٔ لري؛ خو د تسلسل نهٔ لرل د ټپیزې گناه نهٔ ده بلکې د شاعر کمزوري ده چې تسلسل نهٔ شي ورکولی او بې تسلسلي یې عیب دی.

که یو څوک ښهٔ شعر یا ښهٔ نثر نهٔ شي لیکلی، نو د شعر یا نثر گناه یې نهٔ بولو او نهٔ د ژانرونو د ختمولو خبره کوو، بلکې انتقاد مو پر لیکوال وي چې سم او عالي دې یې ولیکي نو عیناً ټپیزه کې ستونزه نهٔ شته، بلکې مشکل د بې تسلسله ټپیزو په لیکوالو کې دی.

د ټپیزې حق هغه وخت پر ځای کیږي چې شاعر تسلسل ورکړي، نوښت ورکې راولي او د اصولو مطابق وي.

نو د ټپیزې کیفیت او دوام یې له شاعرانو سره تړاو لري، چې څومره ښه یې لیکي څومره یې نازوي او څنگه کار ورته کوي؛ ځکه کوم ژانر چې د خلکو د اظهار د ژبې لپاره مناسب نهٔ وي نو له منځه ځي؛ دا به هم معلومیږي چې ټپیزه څومره دوام کوي .که څوک ښه غزل نه شي لیکلی موږ دا نه شو ورته ویلی چې نور باید څوک غزل و نه لیکي، ځکه

چې ښه یې نه شي لیکلی .ټپیزه هم داسې ده، ځینې شاعرانو ښه شاعري پکې کړې ده؛ خو دا چې په وروستیو کې خپل سري زیاته شوه او خلکو ټیکه ییزې او نور شیان پکې را واېستل، د ټپیزې هنریت یې هم زیانمن کړ.

ویل کیږي چې د پښتو په ګډون ډېرو ژبو ته له وخت سره بېلابېل ژانرونه راغلي دي؛ لکه جاپانی هاییکو؛ خو دا چې پښتنو یوازې طنزیه شاعري پکې وکړه او له وخت سره پیکه شوه؛ نو دا دی ګورو چې کرار کرار زموږ له ژبې کډه کوي، داسې به نور ژانرونه هم وي .ټپیزه له اوږدې مودې دمې څخه وروسته یو ځل بیا زموږ په پښتو ادبیاتو کې ظهور وکړ . په لومړیو کې یې خلکو تود هر کلی وکړ .په کم وخت کې خلکو ډېره شاعري پکې وکړه او ډېر کتابونه پکې چاپ شول، اوس هم روانه ده، سندرغاړي یې په مختلفو سازونو کې شرنګوي .دا به راتلونکي وخت ته پرېږدو چې ټپیزه نور څومره عمر کوي، پاتې کیږي، که د نورو ژانرونو په څېر زموږ له ادبیاتو څخه وځي.

https://taand.net/?p=243961

# سمبول

څوک چې له سمبول سره بلدتیا نهٔ لري، ممکن یوه سمبولیکه کیسه یا شعر ورته بې مانا او مبهم ښکاره شي؛ هڅه مې کړې چې دې مرکه کې سمبول معرفي شي.

بله دا چې پر سمبولونو یو لړ انتقادونه کیږي، نو د هغو لپاره هم د ځواب پیدا کولو هڅه شوې ده.

د سمبولېزم د مکتب په اړه خبرې شته.

دا او ورته موضوعاتو په اړه مې د خورا نوي، متفاوت او د سمبولیک سبک لرونکی کیسه لیکوال او کره کتوونکی استاد اجمل پسرلی پوښتلی دی؛ د مرکې لوستو ته مو رابولم.

طارق وزیر: د سمبول ځینې مهمې نښې تشریح کړئ!

اجمل پسرلی: لویه نښه یې تکرار دی که چېرته په کیسه یا یو شعر کې یو صفت لکه رنګ، یا ځای یا بل شی تکرار شوی وي نو ممکن سمبولیک راغلی وي.

د سمبول یو نښه هم تضاد دی چې ضد او نقیض شیان په یو ادبي اثر کې ځای شوي وي، خو نتیجه یې بیا یو ډول وي.

که متن ته توجه وکړو په داستان کې ممکن یو کرکټر د هغهٔ له اعمالو  یا له یوه مکانه درک کړو چې سمبولیک راغلی دی، مثلاً کله چې په یوه لیکنه کې د کابل د بالاحصار یا د ګردېز د بالاحصار ذکر شوی وي ممکن سمبول یې وپېژنو. یوشمیر نور شیان هم د سیمبول په راپیژندلو کې مرسته کولی شي. مثلا زمان کله نا کله بې ډوله په یو داستان کې بدلیږي رابدلیږي، چې دا بدلون هم ممکن د سمبول لپاره وي.

په کیسو کې تصویري ژبه په خپله د سمبول مهمه نښه ده.

کله چې یوه کلمه سمبولیکه راته ښکاره شوه، د هغې مخکې او وروسته الفاظو ته به دقت کوو، چې د عادي مانا ترڅنګ ایا نور مفاهیم هم رانغاړي کنه؟ که داسې ؤ نو د سمبول نښه ده.

کلتورونو ته توجه پکار ده، موږ پښتانهٔ چې د ناوي په جامو کې زیړ رنګه جامې نهٔ ړدو، باور دادی چې زیړ رنګ جدایي ده، دا سمبولیک اړخ لرلی شي.

کله نا کله په کیسو کې پخواني شیان، مثلاً د کرکټر د نیکه لونګۍ سمبولیکه راغلي وي.

سمبول که په کیسه کې وي یا په شعر کې وي له اصلي موضوع باید بهر څهٔ نهٔ وي؛ که په ونه کې یوه پاڼه زیړه شوې، بیا رژیدلې، بیا تر پښو لاندې شوې او غواړو د انسان د ژوند د سمبول په توګه یې استعمال کړ نو کیسه به مو هم د انسان د ژوند وي. که همدا پاڼه په شعر کې استعمالوو هلته به هم دا سمبولیکه را اخلو او شعر به مو هم د انسان د ژوند د بقا او فنا مفهوم رانغاړي.

طارق وزیر: د سمبولېزم مکتب په نوولسمه پېړۍ کې رامنځته شو؛ په ادبیاتو کې سمبولیک اثار تر دې مخکې وو، ولې مکتب دومره وروسته رامنځته شوی دی؟

اجمل پسرلی: په نړۍ کې د سمبولېزم د مکتب تر ایجاد مخکې هم ادبي اثار له سمبولونو ډک وو.

خو ستاسې دا پوښتنه چې دا مکتب ولې ناوخته معرفي شوی، ګڼ علتونه لري:

یو علت یې ممکن دا وي چې ریالېزم د نوولسمې پیړۍ په دویمه نیمایي کې ډېر غوړېدلی ؤ؛ هر څهٔ یو عکس العمل لري د ځینو اروپایي نقادانو په باور سمبولېزم د ریالېزم په غبرګون کې داسې رامنځته شو، چې یو شمېر لیکوال  د دوی په باور په دې نظر ؤ، چې ریالېزم د پیچلو او ژورو مفاهېمو د بیان وس نهٔ لري.

هغه کره کتوونکي چې په ادبیاتو کې د ټولنې تاثیر ته ډېره توجه کوي،هغوی بیا وایي چې د نوولسمې پیړۍ په وروستیو کې په اروپا کې ډېر ټولنیز او کلتوري بدلونونه راغلي وو،ښاري ژوند وده کړې وه،چې په ټولنه کې یې بدلون راوستی ؤ.

د فرانسې د صنعتي انقلاب اغېزې هم پر ولسونو پرتې وي،نو ليکوالان په داسې نوي څۀ پسې گرځېدل،چې له نوي ژوند سره سر وخوري.

بل لورته د يو شمېر پوهانو او فيلوسفانو د نظرياتو تاثير هم پرته له څۀ شکه د سمبولېزم د مکتب د ايجاد سبب شوی دی؛ لکه د جرمن فيلسوف نيچه نظريه؛ مثلا دی وايي (بايد د حواسو په تېروتنه پوه شو.) دا ډېره پخه خبره ده. دا خبره هم د نيچه ده چې وايي:(کله چې ژورو ته ډېر گورو، هغه وخت ژور هم زموږ داخل ته گوري.)

همدارنگه د فرويډ د افکارو جوت تاثير هم په دې وخت کې شته؛ دۀ انسان داسې راپېژندلی دی چې يو کس نۀ دی،بلکې دننه په دې کس کې بل کس هم شته او دريم هم پکې شته. دغه ډول نظريات او افکار د دې سبب شول چې ليکوال ژورو ماناوو او داخلي احساساتو ته په ليکلو کې توجه زياته کړي، چې په يو ډول له دې سره سمبوليک اثار زيات شول.

طارق وزير: د هېگل په اړه يو روايت دی چې چا د دۀ د يو اثر د کومې برخې تشريح ترې وغوښته، نو دۀ ورته وويل: کله مې چې ليکۀ زۀ او خدای پرې پوهيدو خو اوس فقط خدای پرې پوهېږي؛ نو چې يو اثر دومره مبهم شي چې ليکوال پرې نۀ پوهيږي نو مخاطب يې څوک شو او گټه يې څۀ شوه؟

اجمل پسرلی: کله چې يو مفهوم پيچلی وي او څو اړخه لري، په لنډو يې په سمبوليک ډول بيانولی شو؛ يعنې سمبول د اختصار سبب کيږي.

دوهمه خبره هم لومړۍ يوې ته ورته ده، يعنې يو شمېر مفاهېم او انساني احساسات په عادي کلماتو نۀ شي بيانيدلی.

د سمبوليک اثر کمال دادی چې په پر لوستونکي يې اغېزې ژورې وي، البته چې درک يې کړي.

سمبول لوستونکی دې ته هڅوي چې فکر وکړي؛ دا څۀ ؤ؟ ولې داسې وشول؟ لوستونکی انسان دی،انسان د مرگ په شيبه هم ماته نۀ مني؛ نو کله چې په سمبول پوه نۀ شو فکر کوي، موضوع تحليلوي. البته يو شمېر انسانان چې ربښتيا

نهٔ وايي بيا ممکن ووايي، چې دا هسې ګونګې خبرې دي،هېڅ په درد نهٔ خوري؛ دا کس د دې لپاره دا خبره کوي چې دی شکست نهٔ مني.

سمبول د يوې ټولنې ډېر مهم تاريخي او کلتوري حقايق له نورو سره په هنري شکل شريکوي.

مخکې مې بالاحصار او زېړ رنګ ته اشاره وکړه، که په پښتو ادبياتو کې دغه يا ورته شيان ياد شوي وي او بهرنيان يې درک کړي، نو خوند ترې اخلي.

سمبوليک اثر په حقيقت کې د ليکوال او لوستونکي شريک اثر دی، چې يو يې ليکي بل پکې مانا بشپړوي؛ مانا يې يوه نهٔ وي ممکن نن يوه سمبوليکه کيسه يو ډول خوند راکړي، که سبا خپه يم بله مانا پکې پيدا کړم او بل رنګ خوند راکړي او که بله ورځ خوشاله وم په همغه اثر کې بل څهٔ هم موندلی شم.

طارق وزير: يو مثال وايم چې موږ وايو چې سوله ښه ده دا يوه واضح خبره ده، اوس يو بل سمبوليک اثر راسپړو بېرته همدا پيغام راکوي چې سوله ښه ده،نو په دې دوه ډوله پيغام رسونه کې توپير څهٔ دی؟

اجمل پسرلی: هنر يوازې پيغام نهٔ دی، پيغام يې يوه برخه ده او ښکاره پيغامونه هسې هم په  وعظ بدليږي او هنري ارزښت نهٔ لري.

که سمبول د دې لپاره استعمالوو چې يو واضح او ښکاره پيغام لوستونکي ته ورکړو، دا به هغه سوليدلی او کليشه سمبول وي چې تر استعمال يې نهٔ استعمال بهتر دی.

طارق وزير: ځينې په دې نظر دي چې بازې سمبوليک اثار تر سپړلو وروسته بېرته زاړهٔ او کليشه يي پيغامونه درکوي او سمبول د موضوعاتو په لحاظ له نوښته تېښته بولي، ستاسې ځواب ورته څهٔ دی؟

اجمل پسرلی: فکر کوم دا سوال پورته یو څۀ توضیح شو، خو دا به پرې زیاته کړم چې سمبول اصلاً د دې لپاره استعمالیږي، چې نوښت رامنځته کړي.

طارق وزیر: تاسې په خپلو کیسو کې له کومو شیانو سمبولیکه استفاده کوئ؟

اجمل پسرلی: ماته په مشخص ډول گرانه ده چې ووایم،چې له کوم شي سمبولیکه استفاده کوم؛ځکه چې زۀ هم زاړۀ سمبولونه کاروم خو هڅه مې دا وي چې نوي مفاهیم پکې پیدا کړم. البته صفتونه د نوي داستان په منځ کې سم نۀ ځاییږي، یعنې نوی داستان وایي چې یو څۀ باید ښکاره کړې، یو څۀ ونۀ وایې یا حکم ونۀ کړې.

که چېرته مجبوریت نۀ وي، نو هغه صفت د کیسې دپاره غوره کوم، چې سمبولیک اړخ خپل کړي، عددونه هسې نۀ کاروم، کیسه هسې په رنگونو نۀ رنگوم یا کرکټرونو ته د سمبولیک مفهوم لپاره نوم نۀ ورکوم یا که نوم مې ورکړی ۀ نو سمبولیک اړخ ورته پیدا کوم.

خو تل په دې هڅو کې بریالیتوب سخت دی.

طارق وزیر: سیمبول که تکرار شي ممکن بې خوندي رامنځته کړي او هنریت پیکه شي، خو که تاسې خپله نوي سیمبولونه جوړوئ دا بیا ممکن خبره ابهام ته بوځي، نو تاسې کومه لاره غوره بولئ چې د دواړو خواوو تعادل وساتي، یعنې هم سیمبولونه سولیدلي نۀ وي او هم د گونگتیا مخه نیول شوي وي؟

اجمل پسرلی: سمبول که تکرار شي او په تکراري مفهوم راشي، عیب دی؛ خپل سمبولیک خاصیت له لاسه ورکوي، ځکه بیا یوه مانا خپلوي.

خو کولی شو چې همدغه تکرار سمبول په نوي ډول په کیسه کې ځای کړو.

د سمبول په اړه ما په خپرې کړې مقاله کې دا مثال ورکړی ؤ، چې تکرار شوي او سوليدلي سمبولونه هغه د سمبول د مانا د تجسس خوند له منځته وړي؛ لکه عاشق چې معشوق ته په داستان کې سور گل ورکوي يا لکه کوتره چې د سولې د سمبول په شکل په داستان کې سمبوليکه راځي، ځکه دا کوتره دومره د سولې لپاره تکرار شوې چې هغه سيمبوليک اثر يې له منځه تللی چې مخکې مې دا خبره وکړه.

خو يو وخت همدا کوتره په کابل کې په يوه چاودنه کې ټپي شوې وه، که چېرته د دغې ټپي کوترې تصوير په داستان کې را اخلو، د سولې هغه د کوترو د الوزلو له تکرار تصويره به مو ډډه کړې وي، يعنې نوی اړخ به مو ورکړی وي.

که چېرته همدا کوترې د يو کور له بامه والوزوو،لکه په افغانستان کې چې خلک په کور کې کوترې ساتي، بيا مو ازاده کوتره په جال کې اسيره کړې وي، په بل ډول به مو سمبول په ادبي اثر کې ځای کړی وي.

په ورته وخت کې سمبول بايد پرته له يو واضح دليله په يو داستان کې ځای نۀ شي، کنه لوستونکی ممکن مانا سمه درک نۀ کړي، يعنې تل بايد دليل ورته ولرو.

طارق وزير: څۀ فکر کوئ چې کومو پښتنو کيسه ليکوالو له سمبول سمه او پر ځای ګټه اخيستې؟

اجمل پسرلی: د ځان په اړه غږېدل اسانه دي لکه وړاندې زما د سمبولونو په اړه سوال کې مې چې اوږد ځواب درکړ، خو د نورو په باره کې خبرې ماته سخته دي، ترې تېر به شم.

طارق وزير: د سمبوليکو اثارو په مروج کولو کې د صوفي ليکوالو رول څنګه ارزوئ؟

اجمل پسرلی: د دې سوال په ځواب سم نۀ پوهېږم.

# خوب؛ د فرويډ له نظره

ممکن کله کله مو ذهن ته درغلي وي چې خوب څۀ ډول جريان دی او ولې خوب وينو؟ خوبونه تعبير کيدلی شي او د جنسيت په لحاظ توپير لرلی شي؟ په دې مرکه کې مو هڅه کړي چې د لوی ارواپوه زېگمونډ فرويډ له نظره دغو پوښتنو ځواب ومومو؛ فرويډ د خوب په اړه کتاب هم ليکلی، چې خورا مشهور دی.

که مرکه مو تر پايه ولوسته نو د هيپنوټېزم په اړه به هم پوه شئ.

د مرکې ميلمه مې اروپوه عمران انگېز صيب دی.

طارق وزير: فرويډ خوب څۀ ډول جريان بولي؟

عمران انگېز: فرويډ د خوب په اړه ډېر ځانگړي نظريات لري ، چې تر ټولو مشهور او مهم هغه يې دا دی چې د سرکوب شوې هيلې او د عشق اميال چې انسان يې په ويښه نه شي کولی نو د لاشعور فعاليت ( خوب) کې يې ابرازوي.

طارق وزير: د فرويډ له نظره ولې انسان خوب ويني؟

عمران انگېز: تقريباً يوه پېړۍ مخکې فرويډ د خوبونو تعبير په نوم يو کتاب نشر کړ چې هغه کې يې ويلي وو چې خوب ليدل زمونږ هغه هيلې دي چې په بيدارۍ يا په ويښه يې د پوره کولو په هڅه کې يو چې ځيني هيلې يې بې ضرره دي ځکه يې هماغه رقم انځور په خوب کې وينو څنگه چې دي خو ځيني هيلې بيا داسې دي چې د منلو نه دي يا د ټولنې سره په ټکر کې دي لکه جنسي ټکانونه يا ځيني جنوني حالتونه چې مونږ ته هم د منلو نه دي او نه شو کولی چې عملي يې کړو نو له دې امله دغه ډول مضرې هيلې زمونږ په خوبونو کې سانسور کيږي.

فرویډ به د خپلو ناروغانو درملنه د خوبونو له لارې کوله چې دوی څه ډول خوبونه ګوري؛ فرویډ به ویل چې انسانان هغه څه په خوب کې ګوري چې په ویښه یې نادیده نیسي. نو ویلی شو چې د فرویډ هدف د خوب له لیدلو دا دی چې مونږ ځکه خوب وینو چې په ویښه هغه څه نه شو کولی یا یې نه شو لیدلی کوم څه چې خوب کې ګورو یا کوو.

د فرویډ له نظره هر خوب معنادار دی که هغه هر څومره مزخرف او یا کم هم وي. نو د فرویډ له نظره خوب د انسان د رواني تعادل د ساتلو ضامن دی.

طارق وزیر: ددهٔ له نظره هیپنوټېزم او خوب څهٔ توپیر لري؟

عمران انګېز: فرویډ هیپنوټېزم نه خوب ګڼي او نه بیداري بلکه ذهني ارامش ته ورته یو نوم ورته اخلي؛ ده به لاشعور ته د ننوتو لار هیپنوټېزم باله؛ فرویډ وو چې د هیپنوټېزم په واسطه یې د رواني ناروغانو درملنه کوله خو په وروستیو کې دی خپله هم له هیپنوټېزم سره راحت نه وو ددې ناراحتۍ دلیل یې مشخص وو یعنې کله به چې ده کوم ناروغ هیپنوټایز کړ په دې کې به ځیني داسې ناروغان وو چې بېرته به په حال نه راتلل ضعف کیدل به؛ همغه وو چې وروستیو کې ورسره راحته نه وو.

طارق وزیر: ځیني خلک د خوبونو له لارې پېشبیني کوي، په دې اړه فرویډ څهٔ نظر لري؟

عمران انګېز: فکر نه کوم چې فرویډ دې د خوبونو له لارې د وړاندوینې څه خبره کړې وي اما دومره یې حتماً ویلي چې مونږ کولی شو د خوبونو له لارې د یو انسان لاشعور یا ناخود آګاه ضمیر ته لار وکړو تر څو هغه ناویلې او پټې کیسې وګورو چې ناروغ یې په هوش یا شعور کې نه شي ویلی؛ چې دا رواني تحلیل یې د انساني پلوه مکتب لخوا سخت نقد شو ځکه چې انساني پلوه مکتب دا جبر ګڼلو او ویل یې چې انسان باید په یو کار مجبور نه شي او لومړنی مکتب وو چې د فرویډ د رواني تحلیل Psycho analysis په مقابل کې منځ ته راغی.

دا چې ځيني خلک د خوبونو له لارې وړاندوينې کوي دا به ډېر علمي او اکاډميک بحث نه وي؛ پخوا د خلکو خوبونه ښه وو کافي خوب يې درلود اوس خلک د بې خوبۍ ناروغي لري نو څنګه خوب ووينې بيا يې څنګه يې پيش بيني وکړي هههه په هر حال د فرويډ له نظره خوب ليدل يوازې د لاشعور فعاليت دی او د هغو جنسي او تهاجمي انګېزو بېرته راګرځيدل يا ليدل دي چې سرکوب شوي دي .

طارق وزير: د فرويډ له نظره د انسانانو په خوبونو کې د عمر او جنس په لحاظ توپير شته که د ټولو خوب يو ډول دی؟

عمران انګېز: ما مخکې وويل چې فرويډ لپاره خوب د لاشعور فعاليت وو او ددې په واسطه به يې د ناروغانو درملنه کوله يعنې د دوی خوبونه به يې تفسيرول بيا به يې د ناروغ ناروغي تشخيصوله خو په دې برخه کې ډاکټر ګري ونک په خپل کتاب ( د ښځې او نارينه د خوبونو د توپير محتوا) کې يادونه کړې هغه وايي چې د انسان خوب د هغه د عمر او جنس تر اغېز لاندې دی چې په اغلب ګومان اکثره ښځې په خوبونو کې روښانه رنګونه ګوري، ګزارش ډېر کوي چې دوی دا ډول خوبونه زياتره د مياشتنۍ ناروغۍ (پريوډ) مرحله کې ويني. د ونګ په وينا ښځې حتا د افرادو هويت تشخيصوي اما د نارينه د ښځې له خوبونو سره برعکس دی؛ خو فرويډ د ماشومانو د خوبونو په هکله په يوه مقاله کې چې يوې فارسي مجلې په ۱۳۸۲ کې نشر کړې وه، ويلي وو چې د ماشومانو خوبونه د لويانو هغو سره توپير لري دی وايي چې د ماشومانو خوبونه د هغوی واقعي هيلې دي چې بيا خپلو دې افکارو او خوبونو ته د باصره حس شکل ورکوي او په ځينو مواردو کې يې تفسير ته اړتيا نه وي؛ اصلاً که ووايو چې د فرويډ هدف دا دی چې ماشومان همغه هيلې او تمايلات په خوب ويني چې په ويښه کې يې په اړه فکر کوي.

طارق وزير: ايا فرويډ د خوب پر ګټو او زيانونو بحث کړی دی او که کړی يې دی څهٔ ډول؟

عمران انګېز: بلې! فرويډ په همدې مقاله کې ليکلي چې خوب ناروغي نه ده، بلکه د سرکوب شوو هيلو او تمايلاتو د شکل تغير دی او له ذهني ښادۍ څخه يو فرد برخمن کوي.

طارق وزير: په خوب کې د جنسي اړیکو لرل به هم ممکن د تمایلاتو د سرکوب له وجې وي، کنه هغه حالت طبیعي دی؟

عمران انګېز: دا ښکاره ده چې هغه امیال (چې په دې کې جنسي امیال هم شامل دي) چې له ټولنې سره په ټکر کې وي یا خطر او ریسک ولري نو دا چې په ویښه یې انسان نه شي اشباع کولی نو دوی خوب کې اشباع ته رسیږي. که وایو چې طبیعي دی نو طبیعت د انسان داسې دی چې جنسي اشباع ته اړتیا لري؛ کله ادم ع پیدا شو هغه ولې مستقیم د همسفر غوښتنه وکړه؟ نو ویلی شو چې دا جنسي تمایلات له انسان سره له ازل څخه ملګري دي. څوک چې جنسي اشباع ته په ویښه رسیږي هغه اشباع شو مسله یې ختمه شوه له رواني او جنسي اړخه سالم دی او څوک چې په ویښه جنسي تمایلات نه شي ابرازولی یا نه اشباع کیږي یا د ټولنې او فرهنګ له امله یا د نورو محرومیتونو له امله نو دی بیا خوب کې جنسي اشباع ته رسیږي، هغه اشباع شو مسله یې ختمه شوه.